

دا د چا ښکلے تصویر دے؟
احسان بیټنی

# دا د چا ښکلې تصوير دے

احسان بېټنى

حقوق یې د مصنف دي

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | دا د چا ښکلې تصویر دے |
| شاعر | : | احسان بېټنی |
| مستقل درك | : | کلے بازی، ټانک |
| د چاپ ځاے | : | دانش کتب خانه کابلی، پېښور |
| د پښتو انځوګر | : | سجاد کریم |
| د چاپ کال | : | اګست ۲۰۰۶ع |
| شمېره | : | ۵۰۰ |
| بیه | : | ۵۰ روپۍ (پنځوس روپۍ) |
| خورونکي | : | مرکزي پښتو ادبي جرګه نوښار |

درك : E-mail: ayar44@yahoo.com

Download from: aghalibrary.com

# ترون

د خپلو بچو

شمس امن یار

او

عنبر

پهٔ نوم

Download from: aghalibrary.com

| شمیره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | ارمان | ۱۵ |
| ۲ | یوماښام | ۱۸ |
| ۳ | دا د چا ښکلې تصویر دے | ۲۰ |
| ٤ | زۀ | ۲۷ |
| ٥ | اشنا ته | ۳۱ |
| ٦ | شها | ۳۳ |
| ۷ | منم خو | ۳٥ |
| ۸ | اباسین ته | ٤۰ |
| ۹ | تقسیم | ٤۳ |
| ۱۰ | لیونې ته | ٤٦ |
| ۱۱ | د لیونې خوب | ٥۰ |
| ۱۲ | هلمند | ٥۳ |
| ۱۳ | سپرلي ته | ٥۸ |
| ۱٤ | سوغات | ٦۲ |
| ۱٥ | هیله | ٦٤ |
| ۱٦ | جانان | ٦۷ |
| ۱۷ | ستا تصویر | ٦۹ |
| ۱۸ | پښتون | ۷۱ |
| ۱۹ | ستا تصور پۀ مخ اخستے یمه | ۷۳ |


Download from: aghalibrary.com

| شمېره | سرلیک | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۲۰ | د فراق شپه | ۷۵ |
| ۲۱ | نۀ پوهېږم | ۷۸ |
| ۲۲ | خوب | ۸۱ |
| ۲۳ | ژوندے ضمیر | ۸۵ |
| ۲٤ | لېلا ته | ۸۹ |
| ۲۵ | سپرلیه | ۹۲ |
| ۲٦ | ژوند | ۹۵ |
| ۲۷ | د غیب اواز | ۹۷ |
| ۲۸ | کوهر ته | ۱۰۰ |
| ۲۹ | خالقه | ۱۰۲ |
| ۳۰ | احساس | ۱۰٤ |
| ۳۱ | زړۀ ته | ۱۰۸ |
| ۳۲ | لټون | ۱۱۰ |
| ۳۳ | د امان الله ساهو پۀ مرګ | ۱۱۳ |
| ۳٤ | د تا تصویر رانه غزلي غواړي | ۱۱۵ |
| ۳۵ | حادثه | ۱۱۹ |
| ۳٦ | دعا | ۱۲۱ |


Download from: aghalibrary.com

# د زړهٔ خبره

د محترم کامل مومند او قلندر مومند وېنا ده چې د يو معاصر شاعر په کتاب (شعري مجموعه وغېره) او د هغهٔ پهٔ حقله ليکل که ناممکن نهٔ، نو مشکل ضرور دي او ښخي هم دغه رنګ نن زهٔ هم د يوې داسې ستونزې سره مخ يم، چې ښکلي او زلمي شاعر ملګري احسان بېتني راته د خپلو نظمونو پهٔ کتاب " دا د چا ښکلے تصوير دے " د خپلې رايې د څرګندولو ويلي دي. اګر چې زهٔ نهٔ خو صاحب الرائ يم او نهٔ ځان صاحب الرائ ګنم. خو د ښاغلي احسان بېتني دې چاربنه او کور ودان وي چې پهٔ ما يې دا باور ښکاره کړے دے چې ګندې زهٔ به د هغهٔ پهٔ کتاب څهٔ وليکلے شم.

د جنوبي وزيرستان د صحرا دا ګل نن سبا د نوښار پښتونخوا پهٔ خاوره او فضا خپلې ورمې خوروي او چې پهٔ زړهٔ يې د لنډي سيند د هواګانو مستې چپې راشي نو شعر شعر، غزل غزل او نغمه نغمه يې کړي او دغه شعرونه غزلونه او نغمې دومره خوندورې دومره مينه ناکې او دومره دړد يدلې، سوځېدلې او د دې وطن د خوار و زار اولس پهٔ رنګ دومره تزنېدلې وي چې احساس يې فقط د احسان بېتني غوندې يو فطري شاعر ته کېدے شي او هم هغه پرې د خپلو جذباتو او احساساتو تاودوښه سرولے شي.

ښاغلے احسان بېتنی چې ما لهٔ کله نه ليدلے، پېژندلے، اورېدلے

Download from: aghalibrary.com

او محسوس کړے دے نودېر خوږ، پوست، نرم، غلے او قلار بنيادم دے. هغه که د سائنس طالب علم پاتې شوے دے خو فنون سره مينه په پښتون فطرت کښې د قدرت لۀ لوري لورينه ده. احسان بېتنى د "مرکزي پښتو ادبي جرګې نوښار" مياشتني تنقيدي اجلاسونو له ډېر اهتمام سره راځي او د خپل پاك پاکيزه، سپېڅلي او نفيس شخصيت په شان نفيسه شاعري په ډېر نفاست سره اوروي او داسې زمونږ سماعتونو له د اواز او انداز د شيرنۍ اهتمام کوي. او مونږ ترې خپل زړۀ، ذهن او نظر له خوشحالۍ، سکون او رنګونه او رناګانې اخلو چې د شاعرۍ اولنے مقصد هم دغه دے چې زمونږ د جمال د ذوق تسکين هم وکړي او زمونږ دننه جلال هم راولپاروي.

زمونږ اکثر زلمي شاعران د خپلې شاعرۍ ابتدا د غزل نه کوي، چې د هغوى د ژوند د مستۍ نه د ډکوپېغلو پېغلو ورځو، د چا د زلفو د ګورو ګورو ورېځو، د اوښکو بارانونو، د اهونو اسوېلو د سرو سيليو کرنګو ساعتونو د ماښامونو او د وصال د کېفيتونو، د ګلونو او د سپرلو د نزاکتونو د رناګانو، ښکلاګانو او رنګونو محفلونو، د سرو شونډ سترګواو رو خسارونو د خمارونو سترګو، ورو ځو او د ښو د شرارتونو ستأيني او صفتونوتذکرې هم وي او د سرو و صنوبرو قيامتونو قيامتونو قامتونو ننداري هم او شايد په دغه اساس ښاغلي احسان بېتنې هم د شاعرۍ شروع د غزل نه کړې وي، ولې نن چې هغه د خپلو نظمونو مجموعه چاپ کوي، نو داسې برېښي چې د هغۀ شنې شونډې او تنکۍ ځوانۍ شعور شوخ، پوخ او پوره زلمے شوے وي ځکه چې که مونږ ته د هغۀ په جديدو نظمونو کښې د رومان پرورې فضا مستۍ په جوبن

او د اباسین غوندې په غورځنګونو لیدے شي نو دغه نظمونو باندې يې د رحماني جمال شان او د خوشحالي جلال د نشې رنګ سرور، مستي او سرشاري داسې غالب برېښي چې د شعر د سحر او خمار کېفیت يې مونږ نهٔ شو اندازه کولے.

که یو خوا ته د هغهٔ په شاعرۍ کښې نرګسیت خپله څهره ښائ نو د هغهٔ په نظمونوکښې منظر کشۍ او محاکات نګارۍ هم یوه نهٔ ختمېدونکې سلسله په نظر راځي او دغه شان د هغهٔ په ټولو رومانوي نظمونو ډېر جوت او غالب دے.

د احسان بېتني نظمونه ډېر ساده، اسان او په روانه خالصه پښتنه ژبه کښې دي چې د خپلې علاقاي لهجې اثرېږې غالب دے. او دغه ټکې چې زمونږ پښتو شاعرۍ ته راغلي دي نودا په پښتو ژبه او ادب د احسان بېتني لوې احسان ګڼل پکار دي او مونږ له يې لهجې د دغه پېرزوېنې قدر کول پکار دي.

د مشرقي شاعرۍ د روایت لمن يې هم ټینګه نیولې ده بلکې په نظر کښې يې ساتلې ده. چې ځاې په ځاې يې د خوشحال بابا، رحمان بابا او ابدالی تذکره کړې ده. او مونږ ته د هغهٔ د کلاسیکي شاعرۍ د مطالعې نخښه پته او درک راکوي. د هغهٔ د شاعرۍ بل خصوصیت د هغهٔ خپل منفرد او مخصوص اواز او د اظهار خپله یوه بیانیه او د متکلم په صیغه کښې خطابیه انداز دے چې د اکثروهغو نظمونو چې رومانوي ، تصوراتي او تخیلاتي فضا سازوي تمهیدونه ډېر اوږدهٔ او حکایتونه ډېر لنډ وي دومره لنډ وي

چې اکثر خپل لوستونکي تږي پرېږدي او تنده يې ډاتې شي او زمونږ شاعر خپل درونو، خوږ او روښانه مقصد (مقصد يت) کښې کامياب شي. دې سلسله کښې زۀ د هغۀ نظم " هيله " تا سو ته وړاندې کوم چې ويې لولئ او زما د خبرې پخلے پرې وکړي. د غزل پۀ رنګ ښاغلے احسان بېټني خپل نظم کښې هم داخليت د خارجيت سره داسې ضم او مدغم کړے دے چې مقصد يت ترې مجروح شوے نۀ دے، بلکې دا هم د هغۀ د ليک شان دے چې هم د دغه مقصد يت پله راستنېدو د پاره د اظهار دغه پېرايه خپلوي چې د داخل نه خبره شروع کوي او ورو ورو پۀ کښې د خارجيت اثرات داسې رانغاړي چې مقصد په کښې خپله راپېدا او بيا د لوستونکي پۀ ذهن او ذوق کښې تحليل شي.

د انسان خته خدايزده خدائ د کومو کومو ځايونو نه راټوله کړې او څومره څيزونه يې پۀ کښې خوشتۀ کړي او اغږلي دي چې دا يې د تضاداتو يوه مجموعه کړې ده. او نېرنګۍ يې هر دم او پۀ هر قدم سړے د حېرانګۍ سره مخ کوي. او دا تضادات د احسان بېټني پۀ نظم "زۀ" کښې پۀ ښۀ شان تره بيان شوي دي چې د هغۀ "زۀ" هم يو انساني فطرت او جبلت لري.

که زۀ پۀ لنډو تکو دا ووايم چې ښاغلے احسان بېټني ښۀ او ډېر ښۀ شاعر دے، نو شايد چې زما لوستونکي د اعتراض نکته پورته کړي چې د ملګرتيا حق ادا کوم، خو زۀ دا خبره د هغۀ د دې مجموعې د لوستو نه پس کوم او پۀ خپل پوره هوش او حواس يې

کوم چې احسان بېټنی نۀ صرف ښۀ شاعر دے، بلکې ډېر ښۀ او بهترين شاعر دے چې هغۀ کښې د شعر وئيلو دومره قوت دے او د هغۀ د تخيل قوت دومره زيات دے چې څۀ ته مونږ يو قادرالکلام شاعر وئيلے شو. نۀ خو ورسره د ټکو او لغتونو کمے وي، نۀ د خيالونو او نۀ د موضوعاتو۔ او زۀ يو يا دوه درې نظمونه نۀ بلکې دا ټوله مجموعه پۀ ثبوت کښې وړاندې کوم، چې کۀ يو خوا د هغۀ پۀ شاعرۍ کښې د جمال ښکلې خوندوره ، رنګورينه او ګلورينه څهرې برېښي نو بلې خوا ته يې د جلال انداز او اندازه هم د ډېرو هاغو نظمونو نه لګي چې هغه پۀ کښې يو خالص مخلص او ساده باده ښار شډل پښتون برېښېدلے دے، چې نۀ صرف يې پۀ خپل چاپېرچل نظر دے، چې پۀ چاپېر کښې ورته څۀ چل هم ښکاره شوے دے نو لۀ ښکاره کولو يې ځنګ او ځټ نۀ دے کړے او پۀ اذاديت يې بيان کړے دے۔ او که د پښتانۀ پۀ اجتماعي ژوند او د درست پښتون پۀ وجود يې نظر اچولے دے، نو پۀ " هلمند " نومې نظم کښې يې دغه هر څۀ مونږ ته د يوې رڼې او روښانه هندارې پۀ شان څرګند کړي دي۔ دغه نظم کښې هغۀ د افغانستان ويش شاعر عبدالباري جهاني صېب سره د زړۀ خوالۀ هم کړي دي او لۀ هغۀ يا د هغۀ د شاعرۍ د تېز تند او توانا اواز تر حده يې د ځان رسولو يوه کامیابه هڅه کړې ده۔ د افغانستان د اوروړينو، لمبو لمبو او وينو وينو حالاتو نه څوک چې خبر دي (او څوک ترې نۀ دي خبر؟)، نو دا نظم که يوې خوا ته د هغوئ پۀ زخمي زړۀ لکه د دسمالي لګي نو بلې خوا ته لوستونکيو (خصوصاً اودو پښتنو) له د يوې داسې تازياني کار ورکوي چې تمامې عمر به يې پۀ وجود

لکه د تغمې ولاړ وي. احسان بېتني د افغانستان د بيا وادنې، وروروليۍ او امن علمبردار او د درست پښتون لهٔ "قندهاره تر اټکه" د يو کېدو ارماني دے. دغه نظم دومره اثرانګېز دے چې مونږ د افغانستان د چپې چپې او تپې تپې نه خبروي او لکه د باد مو پرې الوځوي.

د ښاغلي جهاني سره سره ملګري احسان بېتني د خپلې پښتونخوا د زړو او نويو شاعرانو لکه خوشحال، رحمان، ابدالي، غني، خو د قلندر مومند اثرات يې ډېر قبول کړي دي، سليم راز، منتظر بېتني، ډاکټر محمد اعظم اعظم، فوزيه انجم او ځنو نورو اثرات هم قبول کړي دي او دا د يو ويښ او بېدار احساس لرونکي شاعر علامت دے چې پهٔ هغهٔ به د خپلو متقدمينو او معاصرينو اثرات د خپلې مطالعې لهٔ برکته خامخا مرتب کېږي. مطالعه رڼا ده او بغېر لهٔ مطالعې سړے بې سواده او ړوند وي. خو شکر دے زمونږ پهٔ احسان د خدايځ احسان دے چې هغهٔ ته يې بصارت او بصيرت دواړه ورکړي دي او ځکه هغهٔ نهٔ يواځې خپلو نظمونو کښې د دغو متقدمينو او معاصرينو نمونه اخلي بلکې مصرعې يې هم را اخلي او د خپلې شاعرۍ زينت کوي يې. او داسې يې د شعر او فکر نه خپلو سندرو او ترانو له الهام اخلي. لهٔ فني اعتباره د احسان بېتني د يو څو اوږدو بحرونو او مسدس قسمه نظمونو نه علاوه د اکثرو نظمونو هيئتونه قطعه بند او د ورو بحرونو دي چې پهٔ وزن، بحر پوره مقفیٰ او رديف دي او پهٔ دغو وړو او لويو

څوکاتونو کښې يې د خپل زړهٔ او ذهن د جذباتو او احساساتو تصويرونه، د قلبي وارداتو او حادثاتو تصويرونه د خپلو حالاتو او چاپېرچل د حالاتو تصويرونه راښکاره کړي دي چې د ښکلو ښکلو تشبيهاتو، استعاراتو او تلازماتو ګل بوټي يې ترې چاپېره منقش کړي دي.

د "غيب اواز" د ښاغلي احسان بېټنې يو داسې نظم دے چې د خپلې زړهٔ شاعرۍ خاپې يې هم پهٔ سينه نقش دي او د خپل رور د شاعرۍ او شاعرانو سره مينه، عقيدت او احترام هم څرګندوي. "ژوند"، "خالقه"، "احساس" او "زړګيه" نه مې د غني خان د مستۍ او جانانه شاعرۍ غوندې تأثر واخستهٔ. نهٔ پوهېږم چې پهٔ لوستونکيو به څهٔ رنګه اغېزه کوي. خو زما پهٔ خيال هغهٔ لکه چې غني خان پوره ژَبلے او هضم کړے وي. او دغه چست او چابک انداز يې پهٔ نوي سوز او ساز کښې خپلو لوستونکيو ته وړاندې کړے وي.

"ژوندے ضمير" د احسان بېټنې د ژوندي ضمير او ويښ احساس نه ډک يو داسې ژوندے ګرندے نظم دے. چې نهٔ صرف د قامي مشرانو او مشاهيرو ياد تازه کوي بلکې دې کښې د احسان بېټنې د پښتون قوميت احساس هم غزوني کړې دي، راپارېدلے او قهرېدلے دے. د دې نظم اثر به تر ډېره وخته لوستونکي پهٔ خپل سحر کښې اخستي وي. "ليلا ته" نومې نظم که يوه ښکلې روماني فضا راجوړوي نو د مقصديت او جديديت پهٔ حواله د ستأينې وړ نظم دے. چې د احسان بېټنې د رجائ انداز چغلي خوري او دا ثابتوي چې زمونږ معاصر شاعر باندې د قنوطيت لړې او تورې خړې نهٔ دي خورې بلکې لهٔ لوستونکيو هم خوف او وېره ترهه تښتوي او پخپل رجاي رنګ کښې يې رنګوي.

ما وړاندې د زلميو شاعرانو د غزل او د احسان بېټنې د نظم خبره وکړه، نو

ښاغلے احسان بېتني که څۀ هم دې کتاب کښې د غزل رنګونه نۀ دي برخېره کړي، ولې د غزليه شاعرۍ ځينې نمونې يې د نظمونو اخر ته د يو شعر او دوه شعرونو تر سر خط لاندې هم د دې مجموعې زينت کړي دي، چې اکثريت پۀ کښې د ښو شعرونو او د ستايلو دي.

پۀ اخر کښې زۀ پۀ دې ويلو کښې هيڅ باك نۀ محسوسوم چې ښاغلے احسان بېتني ته خپلې دې مجموعې د نظمونو پۀ مجموعي تأثر کښې يو روماني، مقصدي او ترقي پسند شاعر ووايم اګر که اوس ترقي پسندي پۀ خپلو معنيو او جامو کښې نۀ ده پاتې شوې. خو احسان بېتيي د غريبو خلقو ملګرے او دوست دے او د ظالمانوغاصبانو سخت دشمن او پۀ خپله شاعرۍ کښې بلکې د خپلې شاعرۍ پۀ ذريعه د غريب پۀ مرسته تينګ ولاړ او د هغوئ د ژوند د ښۀ کولو ارماني دے.

خدائے دې وکړي چې د احسان بېتني دا کتاب مقبول او معروف شي. زما يقين دے چې د پښتوپۀ شعري مجموعو کښې به چرته ډېر وخت پس يوه ښکلې او د مقصدي شاعرۍ نه ډکه مجموعه د لوستونکيو لاس له ور شي او پښتانۀ پرې د خپلې مينې، ورورولۍ، اتفاق ، اتحاد او تکامل او ارتکاز لاره بيا مومي.

۶/ جون ۲۰۰۶ ع

محمد زبير حسرت

مردان

# سپیناوے

شاعري یوه خدای عطیه ده چې پهٔ چا یې پېرزو شي ورله یې ورکړي احسان بهټني هم د الله تعالی پهٔ دغه خاص کسانو کښې دے چې د خپلې مخصوصې عطیې پهٔ نمانځلو یې مشرف کړے.
شاعر چې شعر لیکي نو د خپل حساس ذهن او رقیق زړهٔ هره ښکالو او هره ساه د قلم پهٔ څوکه د کاغذ پهٔ مخ د معاشرې تر وړاندې ږدي او بیا قاري ته د شاعر د شخصیت اندازه د هغهٔ د لیدو نه زیاته د هغهٔ د لوستو نه کېږي.
خوشحال باباوای چې شاعري حیض الرجال دے. ډېر ګران او د ګران کار دے. او هم دغه وجه ده چې شعر جوړېږي نهٔ ویلے کېږي او د ویلو د پاره ځینې ځینې موقعې او وختونه وي بیا اشعار لکه د وحې نازیلېږي او چې کله د شاعر رحجان دغه پله جوړ شي او د ذهن وچه چینه یې تانده شي نو د لفظونو د وچو کلکو تړو نه هغه بوټي او ګلونه زرغن کړي چې د ادب د چمن زار تماشه کونکي ورته ګوته پهٔ خلهٔ پاتې شي. احسان بهټني هم شاعر دے د حساس ذهن او ویښ ضمیر بېدار مغزه زلمے شاعر، د حالاتو پهٔ نزاکت یې هم نظر دے او د سماج پهٔ لوړه ژوره، کنده کرمه او لوړ پېچومې هم پوهه دے او هم دغه وجه ده چې د احسان بهټني نظمونه نهٔ صرف د هغهٔ د قلمه وتې د هغه ژور احساسات دي بلکې د معاشرې او سماج هر حساس بنده یې د خپل زړهٔ او ضمیر

غږ کښي او د ژوند په رموز پوهه قاري په وېنا مجبوروي چې

بس د وېښلو ضرورت يې نشته ـ

تا چې وېښ دغه په زړه وو زما

د احسان بېټني شاعري د جمالياتي حس سره سره د جلال د پرنوره شغلو نه هم ډکه ده چې د جلال په کېفيت کښي د جمال اظهار کوي نو د غني خان مينه پرې ماتېږي خو که د طنزاو ايمائيت نشتر په لاس د معاشرې د ناسور خېولو هڅې نه يې پام شي نو قلندري (د قلندر مومند) چاپ پرې په اسانه ليده کېږي. احسان بېټني نظمونه د مينې محبت نه د ډکو احساساتو او جذباتو دوېم نوم دے. "يو ماښام" نومې نظم که يو طرف نه د شاعرېدو غوره محاکات نگارۍ دلالت کوي نو بل طرف د شاعرد روماني احساس هنداره. دا وروستني اشعار خامخا د کتو دي چې د لوستلو نه پس د قاري د خلې نه بې اختياره ووځي واه واه!

چې په دې کښي ليلا پښه شانه راغله

راته پټې يې په سرو لاسو کړې سترگې

بيا راتيته شوه په ما د جنو ميره

کړې خورې يې په ما زلفې درگې درگې

راته يې غلي غونډې ووې "وايه څوك ده"

ما وېل لگي د ليلا پاسته لاسونه

کټ کټ شنه شوه له خندا او په شا لاړه

"دا د لاړم د ماښام وايي بانگونه"

د کتاب پهٔ سرورق د تت تصویر پهٔ حقیقت د پوهېدلو د پاره د شاعر د رومان او د رومانیت نه ډک نظمونه لوستل د قاري تنده ماته کړي او هغه په دې خبره ورسي چې واقعي " دا د چا تصویر" کېدے شي. چې د شاعر پهٔ خیال او ذهن لکه د پېري سور دے. د "شها" نظم د لوستلو سره د احسان بېتني "شها" د لوستونکي پهٔ اعصابو سوره شي خو د دغه نظم دا شعرونه

او زما دې سترې ژوند ته — هم ارام یې هم سکون یې
دې مایوسه زندګۍ ته — یوه طمعه د ژوندون یې

د شاعر د وینا تولې غوتې پرانېزي.

احسان بېتنی کله د استعارې پهٔ ژبه " لیلا ته" پهٔ نوم د خپل زړلي او دردېدلي قام ویر ژاړي او کله د تشبیه او کنایه پهٔ لمن کښې خپل زړهٔ بوږنونکے احساس د نظم پهٔ شکل کښې د قرطاس پهٔ صفحاتو وراندې کوي. احسان بېتنی د یوې داسې علاقې سره تعلق لري چې د هغې لب ولهجه د برني پښتون وګړي له پاره ډېره اسانه ده. خو " دا د چا ښکلے تصویر دے" کښې زمونږ د شاعر ژبه دومره ساده باده او اسانه ده چې د چا هم دا خیال نهٔ شي راتلے چې ګني احسان بېتنی د دې سیمې نهٔ دے. زېر نظر کتاب د نظمونو مجموعه ده. خو ځاے پهٔ ځاے پهٔ کښې کله د ملغلرو تومبلي یو یو شعر (فرد) دا پېښن ګوئ کوي چې د شاعر لاس برې د نظم سره سره پهٔ غزل هم شته لکه

بس لۀ تا مې یاره سود پۀ څا و نه شو
که د خیال آذر مې ډېر بتونه جوړ کړل

او یا دا چې

پۀ تور د محبت یې که د دار فیصله وشوه
احسان څومره ساده دے لا د یار پلونو ته ګوري

شاعر د علم البیان نه هم خبر دے او پۀ "نۀ پوهېږم" نظم کښې یې ګڼ تلمیحات لکه اتش نمرود ته ابراهیمؑ غورزول، د منصور پۀ دار ختۀ، امام اعظم ته زهر ورکول، مناظره د موسیٰ و فرعون، واقعه کربلا، قام پرستي، لیلا مجنون، جوړے شهر، رهبانیت او مادیت یې ښکاره بېلګه دهٔ

پۀ ځینو نظمونو کښې تکرار لږ پۀ خاطر درونډ لګي خو بیا هم د نظم خوږو د تکرار تراخۀ مغلوب کړي. احسان بهټنی اګر که د پېشې پۀ لحاظ د ادب نه لرې دے ولې د کړۀ وړۀ او کردار پۀ لحاظ د پښتو ادب سره نزدې اړیکي لري کوم چې د پښتو او پښتنو د پاره د نېکمرغۍ فال دے. هیله لرم چې احسان بهټنی د کوم منزل پۀ لور دمزل آغاز کړے د مایوسۍ واوړې به د هغۀ جذبات کرنګ نۀ کړي او دغه سفر به جاري ساتي.

جهان عالم

پښتو سانګه پوسټ ګریجویټ

جهانزیب کالج سېدو شریف

۲۶ جون ۲۰۰۶ ع

# خپلې خبرې

د سکول د مضامينو په حساب مې له ادب سره څۀ تعلق نشته ځکه چې لۀ لسم نه تر څوارلسم او بيا بي۔ فارمېسي (B. Pharmacy) کښې مې د سائنس مضامين لوستي دي۔ خو شاعري په رښتيا چې يوه خدايي عطا ده او ماته هم دغه رابخښلې شوې ده۔ ما دا داعوه چرته نۀ کړې او نۀ يې کوم چې زۀ يو ښۀ شاعر يم۔ خو که ښۀ يم او که ښۀ نۀ يم کم از کم شاعر يم۔ خوشحاله په دے يم چې پښتو لوستے او ليکلے شم۔

پلار ته مې دې خدائے اوۀ واړه جنتونه ورکړي چې پۀ هغه غريزه علاقه کښې يې زما د تعليم د پاره خپل وس سترې کړ او د مور د دعاګانو په سبب مې خپل تعليم سر ته اورساوۀ۔

زۀ د خپلو خوئندو هم د دې کتاب پۀ واسطه شکريه ادا کوم چې همېش يې زما د روښانه مستقبل د پاره لاس پورته کړي دي۔

زۀ لۀ ګرانو لوستنکيو هيله لرم چې زما دا ورومبې شعري مجموعه به د ادب د معيار پۀ تله نۀ تلي، هر کله چې ما دې کتاب کښې د ځينو ملګرو او پۀ خصوصي توګه د لطيف شاه شاهد پۀ اصرار فقط نظمونه شامل کړي دي او د غزلونو چاپ مې بل کتاب ته پرېښے دے۔

زۀ د ځينو ملګرو لکه لطيف شاه شاهد، ، زبېر حسرت، نجيب عامر، محمد اصف صميم، نورالحبيب نثار، ابرار، احسن ، قسمت علي رضا، او داسې د نورو ډېرو ملګرو مشکور هم چې د ستائينې پۀ داد

يې كتاب چاپ كولو ته وهٔ هڅولم.
د محترم پروفېسر نصرالدين طالب صېب ،د ملګري فرهاد محمد غالب ترين او همايون همدرد هم ډېره مننه کوم چې د "مرکزي پښتو ادبي جرګې نوښار" پهٔ تنقيدي اجلاسونو کښې يې همېش زما نظم اوغزل ستايلې او معياري ګرزولے دے او زما حوصله افزاي يې کړې ده. ما ترې ډېر څهٔ زده کړي دي. او تر خپله وسه مې د خپلې شاعرۍ اصلاح پرې کړے ده.
د ګران مشر منتظر بېتني صېب هم ډېره مننه چې پهٔ ابتداي دور کښې يې زما رهنماي کړې ده او پهٔ داد يې ما خپله شاعري جاري وساتله.
پهٔ اخر کښې زهٔ د ملېزو عبدالرحيم، عبدالکريم، عبدالعزيز او مرحوم فضل الرحيم هم هېرولے نهٔ شم چې خپل کور کښې يې لکه د خپل ورارهٔ اوساتلم. او د دوي پهٔ سبب زما تعليمي سفر نيمګړے نهٔ شو پاتې.
د ملګري پروفېسر زبېر حسرت او پروفېسر جهان عالم هم ډېره مننه چې زما پهٔ کتاب يې د خپلې رايې اظهار ته غاړه کېښوه او ډېرې اصلاحي مشورې يې راکړې.
زهٔ لهٔ هر لوستنکي هيله لرم چې که چرته ورته څهٔ کمي محسوسه شي، ماته وليکي چې اينده د پاره پرې خپله اصلاح اوکړم

احسان بېتني

نوښار

٢٧. جون ٢٠٠٦ ع

# ارمان

چې زۀ هم د چا اشنا واې، څوک لۀ ما قربانېدلاې
چې زۀ هم د چا دلبر واې، لۀ ما هم څوک ځارېدلاې
چې د چا د زړۀ تکور واې، څوک پۀ غم مې ژړېدلاې
چې د چا د سترګو تور واې، زما هم تپوس کېدلاې

ماته هم چا وېلے ګله! چې زۀ هم چا ښکلاولاې
ښۀ پۀ مينه محبت يې ښۀ سينې پورې نيولاې
چرته ما هم څو ياران واې، چې بار بار يې يادولاې
چرته ما هم څوک غمخوار واې، چې يې لاس پۀ سر راکښلاې

چې لۀ غم نه ډک ژوندون ته، څوک زما هم تسلي واې
چې زۀ هم د چا اياز واې، څوک زما هم غزنوي واې

د ادم لاس کښې رباب واې، درخو ورو، ورو اورېدلاې
يا فرهاد مينه کښې مست واې، شيرينې چرته ځارلاې
يا يوسف د کرمار واې، شيربانو خوا کښې نيولاې
يا مجنون زۀ لېونے واې، چې لېلا زۀ يادولاې

چرته زۀ هم بل مشال واې، چې ښايسته پۀ ما محفل واې
يا د وروځو مينځ کښې خال واې، يا د چا بيا تور وربل واې
د لېلا پۀ سورکو شوندو، چې د مينې يو غزل واې
يا د چا پۀ تورو څنو، کښې د مينې يو سور ګل واې

او چې زهٔ هم د چا خپل واې، چې زما هم څوك غمخوار واې
غم ښادۍ کښې مې شریک واې، چرته ما هم داسې یار واې

د سپرلي پسته ورمه واې، ورو، ورو ګل مې تخنولاې
یا د ګل پانه کښې بوي واې، چا نیازبین زهٔ بویولاې
یا واې زهٔ ګل د ګلابو، چا وربل کښې چې تمبلاې
یا پیاله واې د شرابو، چې مې هر څوك مستولاې

یا واې اوښکه د مئین زړهٔ، پهٔ رخسار چې بهېدلاې
یا واې آه د سوي زړونو ، چې دنیا مې سوځولاې
یا سلګۍ زهٔ د یتیم واې، چې جهان مې لړزولاې
یا خولې د یو مزدور واې، چې ورو، ورو رابهېدلاې

پهٔ تیارو د نفرتونو کښې مشال څوك راته بل واې
د ژوندون پهٔ تنها لاره تر منزله مې څوك مل واې

یا منصور واې چې پهٔ دار مې اناالحق پهٔ زور ویئلاې
یا سقراط غوندې رښتینے، پهٔ خندا مې زهر څښلاې
یا بیا چرته غزنوي واې، چې سومنات باندې ختلاې
یا بیا چرته ابدالي واې، پاني پت کښې جنګېدلاې

یا نعره واې زهٔ د صلحې، چې یو بل مې خپلولای
یا رنا واې زهٔ د امن، چې جګړې مې خشمولای
یا خلوص او محبت واې، چې فاصلې مې ختمولای
یا واې شپه زهٔ د اختر چې خوشحالي مې راوړولای

هم چې هر چا زهٔ ستاینلای، هم چې هر چا خندولای
د هر چا د سترګو نور واې، هم چې هر چا ښکلولای

یا د تورو کمڅو ول واې، یا په زنه شینکې خال واې
یا د یار د سترګو نور واې، یا سرخي یې د رخسار واې
بس هم دغه مې ارمان دے، بس هم دغه مې ارزو ده
یا د یار د قدم خاورې، یا د یار د غاړې هار واې

## یو شعر

زهٔ ساده باده لهٔ مینې څهٔ خبر
تا خندل وارهٔ وارهٔ مئین شومه

# يو ماښام

نمر و غرۀ ته غېږه ورو ورو ورکوله
د اسمان لمنې ورو ورو سرې کېدلې
دشپانۀ د شپېلۍ ساز ورو ورو راتلللو
سيلۍ پاڼې د شنو ونو رپولې

رمې ورو ورو راروانې وې رغزو کښې
مارغان هم راستنېدل خپلو ځالو ته
پېغلې هم بېرته راتللې لۀ ګودر نه
مزدوران ستړې راتلل خپلو کورو ته

اوښ بنو بارونه بار وو راستانۀ وۀ
بزګر هم دوړې څنډلې لۀ پټکو نه
ماشومانو هم کورسکې سره وران کړل
ګرد يې وڅانډۀ د يو بل لۀ جامو نه

ماښام توره لمن ورو ورو خوروله
لېوګونه هم راوتل يو يو غارو نه
مسافرو کدې وارولې غرۀ کښې
شنۀ لوګې وۀ راختل چې لۀ نغرو نه

چې پۀ دې کښې لېلا پټه شاته راغله
راته پټې يې پۀ سرو لاسو کړې سترګې
بيا راتيته شوه پۀ ما د جنو ميره
کړې خورې يې پۀ ما زلفې درګې درګې

راته غوږ کښې پۀ ورو ورو هسې لګيا شوه
تا به وېل پۀ ما نازل شو الهامونه
بنګړي ورو ورو شنېدل پۀ سپينو لېچو
ما وېل اورم جنتي ښکلي سازونه

راته يې غلې غونډې ووې "وايه څوک ده"
ما ويل "لګي د لېلا پاسته لاسونه"
کټ کټ شنه شوه لۀ خندا او پۀ شا لاړه
"دا ده لاړم د ماښام وايي بانګونه"

## يوشعر

چې ګمان پرې د حميد د زمانې شي
د احسان و رنګين شعر ته حېران يم

# دا د چا ښکلے تصویر دے

دا د چا ښکلے تصویر دے
چې تر سترګو سترګو کېږي
دا د چا د زنې خال دے
چې په زړهٔ مې راورېږي

دا د چا مېګونې سترګې
دا د چا د ناز کاتهٔ دي
دا د چا ښکلې ادا ده
دا د چا په خرام تلهٔ دي

دا د چا ګلابې شونډې
غلې غلې راته خاندي
دا د چا زلفې خورې شوې
دا سپرلې چې په نڅا دي

دا د چا سرهٔ اننګې دي
بهارونه چې ترې زېږي
دا د چا شرابې سترګې
خمارونه چې ترې زېږي

چې ترې څار مې هره ساه ده
دا د چا ښکلې تصوير دے
دا د چا د زلفو ولونه
چې مې زړهٔ پهٔ کښې اسير دے

دا د چا ښکلې تصوير دے
چې مې ځان دے هم جهان دے
دا د چا د زنې خال دے
چې د ګرد ژوند مې ارمان دے

دا د چا د مخ جلال دے
چې هم نمر ترې نه پټيږي
دا څهٔ حسن دے جمال دے؟
چې سپوږمۍ هم ترې شرميږي

چې زما د ژوند قيصه ده
چې زما د سترګو نور دے
چې زما سحر ماښام دے
چې زما د زړهٔ سرور دے

د ژوندون په وران جهان کښې
چې هم سوز دے او هم ساز دے
چې نسیم په ورو ورو ناخي
که د چا د پښو اواز دے

چې تري ځار مي هره ساه ده
دا د چا ښکلے تصویر دے
چې همت، او هم قسمت دے
چې تدبیر دے هم تقدیر دے

دا د چا ښکلے تصویر دے
چې مي فکر دے هم خیال دے
دا د چا د زنې خال دے
چې مي نور دے هم مشال دے

دا چې څوک دے پاکه خدایه
چې مي لاره هم منزل دے
چې محور مي د نظمونو
تخیل مي د غزل دے

دا چې څوك دے پاكه خدايه
چې مقصد هم مې دعا ده
ستا په ګرده خدايي كښې
بس هم دا مې تمنا ده

د ماښام په تروږمې كښې
دا تصوير مخې ته راشي
په خوله لاس كښېږدي مسكے شي
پسې برق برق په خندا شي

چې ترې ځار مې هره ساه ده
دا د چا ښكلے تصوير دے
د ځوانۍ د ارمانونو
د خوبونو مې تعبير دے

دا د چا ښكلے تصوير دے
چې اباد مې پرې جهان دے
دا د چا د زنې خال دے
چې مې ژوند دے هم مې ځان دے

چې فطرت په حسن ناز کړي
ماښامونه که غمژن دي
چې په سرو سرو اننګو کښې
ښائيستونه که غمژن دي

مصور دي که په خيال کښې
تصويرونه د چا نغښتي
چا شاعر دي په غزل کښې
که يادونه د چا نغښتي

د ګودر په يخه غاړه
چې سپرلي لۀ خوبه زانګي
که د سيند په غاړه غاړه
اوربلکي سره خاندي

چې ترې ځار مې هره ساه ده
دا د چا ښکلے تصوير دے
چې د زرۀ په تخت مې ناست دے
په خوبانو کښې امير دے

دا د چا ښکلے تصویر یې؟
چې د پټې ژړا راز یې
دا د چا د زنې خال یې
چې د مینې مې اغاز یې

دا چې څوک یې خواله راشه
چې هم ځان شو، هم جهان شو
پهٔ یو بل باندې مئین شو
د یو بل د زړهٔ ارمان شو

د رنګونو پهٔ دنیا کښې
د یو بل د سترګو نور شو
د مستۍ پهٔ دې جهان کښې
د یو بل د زړهٔ سرور شو

د سپرلي پهٔ رنګینو کښې
د یو بل د غاړې هار شو
د ګلونو پهٔ وږمو کښې
چې لهٔ یو او بله ځار شو

چې پهٔ تلونکي مازیګر کښې
د یو بل اننګي ښکل کړو
چې پهٔ غبړه د ماښام کښې
د شفق رنګونه خپل کړو

چې فطرت راته حېران شي
کائینات ګوته پهٔ خولهٔ شي
چې منزل راته نعرې کړي
او وختونه زمونږ ملهٔ شي

## دوه شعرونه

د ژوندون پهٔ ښایسته لاره مې جانانه
ما بې واره دِ تا پلونو ته غېږ ور کړه

ما یې پهٔ جار نوم دک محفل کښې چې بار بار اخستو
سترګو کښې قهر د نیازبیني شها څهٔ وې راته

# زۀ

کله زۀ مست شم    کله مستي شم
کله زۀ خود شم    کله خودي شم
کله رقيب شم    کله اشنا شم
کله ژړېږم    ګاه پۀ خندا شم
اوس لېونے يم    بيا لېونتوب شم
کله زۀ ويش شم    کله پۀ خوب شم
کله زۀ سوز شم    کله زۀ ساز شم
کله زۀ راز شم    کله زۀ نياز شم
دغه دے دا يم    هغه دے آ يم
کله پۀ شاني    د لېوني شم
کله زۀ مست شم    کله مستي شم
کله زۀ خود شم    کله خودي شم

ګاه انتظار شم    کله وصال شم
د شوندو خوند شم    د زني خال شم
کله پۀ خود شم    کله جنون شم
کله زۀ مرګ شم    کله ژوندون شم
کله زۀ ګل شم    او کله خار شم
کله اقرار شم    کاله انکار شم

کله تکور شم
کله زوږرگي شم
کله ارمان شم
د ميو جام شم
کله زۀ مست شم
کله زۀ خود شم

کله دردونه
کله آهونه
گاه رنگين خيال شم
کله ساقي شم
کله مستي شم
کله خودي شم

کله ذره شم
کله شم ستورے
کله بې دل شم
کله گل چين شم
کله شم امن
کله زۀ هېر شم
گاه چې پښتون شم
گاه چې زۀ حق شم
گاه مسلمان شم
گاه باچاخان شم
کله زۀ مست شم
کله زۀ خود شم

کله افتاب شم
کله مهتاب شم
کله دلدار شم
کله ماليار شم
کله فساد شم
کله زۀ ياد شم
بيا زۀ غدار شم
بيا زۀ سنگسار شم
گاه زۀ کافر شم
کله گاندهي شم
کله مستي شم
کله خودي شم

کله دریاب شم — کله قطره شم
کله ساحل شم — کله چپه شم
کله آزاد شم — کله غلام شم
کله آغاز شم — کله انجام شم
کله عنقا شم — کله شاهین شم
کله راوي شم — ګاه اباسین شم
ګاه د دنیا شم — کله د دین شم
کله زهٔ تور شم — کله زهٔ سپین شم
کله ثواب شم — کله ګناه شم
کله ملا شم — کله پادري شم
کله زهٔ مست شم — کله مستي شم
کله زهٔ خود شم — کله خودي شم

کله تیاره شم — کله رڼا شم
کله زهٔ ورك شم — کله پیدا شم
کله اوبهٔ شم — کله زهٔ اور شم
کله خاموش یم — کله زهٔ شور شم
کله طوفان شم — کله سیلۍ شم
کله باران شم — کله ږلۍ شم

دغه ده راغلم — هغه ده لاړم
دغه ده خاندم — هغه ده ژاړم
کله زهٔ ورک شم — کله پیدا شم
کله زهٔ نیست شم — کله هستي شم
کله زهٔ مست شم — کله مستي شم
کله زهٔ خود شم — کله خودي شم

## دوه شعرونه

بې لهٔ تا مې یاره سود پهٔ چا او نهٔ شو
که د خیال آذر مې ډېر بتونه جوړ کړه

د زړهٔ زخمونو کښې دردونه شول قرار داسې
لکه لهٔ اوښکو دکو سترګو ته چې خوب ورشي

# اشناته

دِ تا ګیله والله په ځاي ده اشنا
خو زهٔ د وخت په زولنو ترلاي
زړهٔ مې غوښتل چې ستا په حال خبر شم
خو که تر اوسه مې فرصت موندلاي

زهٔ چې د وخت په قدم ګام اخلمه
د وخت زامن لا زما پښې ماتوي
که کرم د مینې محبت غبرونه
شکمن سماج لا زما خولهٔ بندوي

په دې ظالم او دې شکمن سماج کښې
دِ تا معصوم نوم یاره! څنګه واخلم
د عشق په پاك مخ چې داغونه لګي
نو دِ تا نوم نګاره! څنګه واخلم

دا مې قسم چې مې هېر کړاې نهٔ یې
خو څهٔ د وخت مصلحتونه به وي
دا چې تر تا پورې درتللاې نهٔ شم
هم څهٔ د وخت ضرورتونه به وي

ګوري شکمن زما په مینه نه شي
دا دې مدت کوم معصومه اشنا!
خدای مې دې مر کړي لور به خه وایمه
که مخ مې واړوه جانانه! له تا

د سترګو تور د زړه مې سر یې اشنا
لور وایه تا خفه کولی شمه؟
له مې هر رګ کښې لکه سیاه غرېږي
لور وایه! تا زه هېرولی شمه؟

زه چې د وخت په قدم ګام واخلمه
تا ته به هار د سرو ګلونو راوړم
کړم به د میدې محبت غېږونه
درله ډالۍ به د لعلونو راوړم

دا د ظالم سماج دا توري تیاري
ګلګیه! بس په ختمېدو ویدمه
خو لې همت او حوصله به غواړي
د منزل لار په لنډېدو ویدمه

# شـهـا

د عـاشـق د زړهٔ ارمـان يـې
د شـاعـر د خـيـال تـصـويـر يـې
د مـجـنـون د سـوچ دنـيـا يـې
د مـيـن د خـوب تـعـبـيـر يـې

د ګـلاب نـازکـه پـانـه
د صـبـا د بـاد قـدم يـې
د سـپـرلـي خـمـار وږمـه يـې
د شـفـق سـرخـي کـښـې هـم يـې

د سـاقـي د جـام نـشـه يـې
تـهٔ د مـسـتـي ځـوانـۍ خـوب يـې
تـهٔ پـهٔ سـتـرګـو کـښـې خـمـار يـې
د بـاغـي زړهٔ لـېـونـتـوب يـې

د مـيـن د اوښـکـو راز يـې
تـهٔ د سـوي زړهٔ ارام يـې
د دردمـن زړګـي تـکـور يـې
او غـمـژن زړهٔ لـره جـام يـې

د ګلونو پسته غېږ کښې
یې ورمه د ګلابونو
ته په غېږه د ماښام کښې
یې سرور د شرابونو

د غني د شعر سرور یې
شاعري ته د رحمان یې
د اعظم د فکر تال یې
تصور د خوشحال خان یې

د بشریٰ د خیال تصویر یې
د انجم د شعر معنیٰ یې
ته د حسن ابتدا یې
ته د مینې انتها یې

او زما دې سترې ژوند ته
هم ارام یې، هم سکون یې
دې مایوسې زندګۍ ته
یوه طمع د ژوندون یې

# منم خو

منم ستا ذکر مې پرېښود
هسې نهٔ چې خفه تهٔ شې
رانه هېره ګلې نهٔ یې
ګیله منه ګورې نهٔ شې

څنګه تا به هېرومه
تهٔ مې روح یې، تهٔ مې ساه یې
زهٔ مئین پهٔ بل چا نهٔ یم
زهٔ مجنون تهٔ مې لیلا یې

ګلې! هاغه د اختر ورځ
ماته یاده، ماته یاده
چې تا لاس راته نیولې
ویل دې څهٔ ښکلې حنا ده

غه د ژمې ماښامې کښې
ستا ورې ، ورې ګیلې مې
غه سړې سړې سیلۍ کښې
ستا پهٔ مخ زلفې خورې مې

غه د میني و منزل ته
ستا لوظونه او وعدې مې
ملګرتیا د مرګ تر ورځې
هغه لوړې حوصلې مې

ما ته یادې، ما ته یادې
هېرېداې نهٔ شي لهٔ ما نه
خفه نهٔ شي، خفه نهٔ شي
یه زما ښکلیه! جانانه

زهٔ پوهېږم ګلې ښهٔ پرې
ښکلے هار د سرو ګلونو
ستا ارزو ده، ستا ارمان دې
یو تعبیر دے د خوبو

چې د سرې جورې نشان دے
و منزل ته رسېدل دي
د یو نوي ژوند اغاز دے
د ارمان پوره کېدل دي

منم ستا ذکر مې پرېښود
هسې نهٔ چې خفه تهٔ شې
رانه هېره ګلې نهٔ يې
ګيله منه ګورې نهٔ شې

دې حالاتو راته ګوره
څنګه سرې سترګې نيولې
د دوران سپېرهٔ وختونو
لا کړې سترګې نيولې

د بزګر پښې شلې شوې
د مزدور هډوکي سترې
د مظلوم ګرېوان شلېدلای
هم يتيم لهٔ لوږې رغړې

احساسونه او جذبې مو
د سارهٔ نغرې ايرې دي
همت ستړای، هيلې ستړې
لا مو سترې حوصلې دي

د پېرغل☆ په خوکو واورې
لا هم هاغسې پرتې دي
اسوېلي مو لا ساړه دي
جذبې هغسې لا مړې دي

د ځوانانو په سينو کښې
طوفانونه لا ويده دي
د يتيم سلگۍ سرې دي
د مظلوم په آه کښې څه دي

منم ستا ذکر مې پرېښود
هسې نه چې خفه ته شې
رانه هېره گلې نه يې
گيله منه گورې نه شې

خو!

دا حالات چې لږ بدل شي
په کلونو کښې ساه راشي
دا خزان چې لاړ شي ورك شي
بلبلان په خندا راشي

چې امتیاز لۀ مینځه اووځي
استبداد کده پۀ سر کړي
د ظالم لاسونه مات شي
او فساد کده پۀ سر کړي

د غاصب احتساب اوشي
حق، ناحق نه حق ته راشي
د ماښام تیارې شي ورکې
سپېدې وچوي او رنا شي

بیا به هار د سرو ګلونو
ګلې! تا لره راوړمه
را حاصل چې مې منزل شي
ستا رخسار به ښکلومه

زۀ به ستا، تۀ به زما شي
ارمانونه به پوره شي
نۀ فراق او نۀ به غم وي
ارمېښتومه به پوره شي

☆ پېرغل پۀ جنوبي وزیرستان کښې یو غرد ے

# اباسین ته

لکه د مست اوښ ستا ځګونه منم
ستا په څپو کښي طوفانونه وینم
په بهیدو کښي دے غرور منمه
له شوره ډک دِ تا موجونه وینم

د غره له کانو سره لاس اچوي
دِ تا څپي او ستا موجونه سینده
نه ایساریږي، نه ودریږي منم
ځي لندوي خپل منزلونه سینده

د زړه له تله دي لوګي راخیژي
د شین اسمان په مخ څادر واچوي
منم خاموشه کنارو باندي ستا
مستي څپي پري د ځلک غر واچوي

د اسمان ستوري دي څپو کښي ځل کړي
د څوارلسم سپوږمی دي مست کړي منم
چي مي تیریږي د کیږدی په خوا کښي
شور دے موجونه بیا بدمست کړي منم

شي په قلار د محلونو خوا کښې
چې څوك نیازبینه له خوب ویښه نه شي
خو د جونگړو خوا کښې شور جوړ کړي
که بې ارامه شي نوستا پرې څه شي

اوړې را اوړې بې پروا یې روان
ته مې د ژوند له سختو څه خبر یې
چې د یو گل په ارمان ورژیدې
له هاغو وچو دښتو څه خبر یې

ته مې د سترو په قطار کښې شمېرې
خو زه د وخت په قدم تللے شمه
د بې همتو زه ملگرے نه یم
د وخت طوفان په شا کولے شمه

لرمه زور د خونړو څپو دې
ستر خوشحال خان درته ویئلي نه دي؟
لرمه زور دے د سرکش موجونو
فخرِافغان درته ښائیلي نه دي؟

ما ته پهٔ خوارو سترګو خوار مه ګوره
ما د اورنګ غرور مات کړی نهٔ دی؟
ما د مایوسو صف کښې ځنګه شمېرې
ما د فیرنګ غرور مات کړی نهٔ دی؟

د وخت قیصې دي چې لېږ غلې یمه
ګڼې یم کور زهٔ د تودو بادونو
اور بهٔ دې بل پهٔ خونړو څپو کړم
سینه مې ډکه ده لهٔ سرو اورونو

## دوه شعرونه

منمه چې بابا دِ تا پهٔ زمکه ګستاخي ده
خو! خداي ګو دا غزل مې پهٔ پښتو کښې د کتو ده

رخصت يې که احسان، وچه وي د صورت وینه
خو تلو تلو کښې پهٔ شا شا راکتو کښې د کتو ده

# تقسیم

د فرنټیېر پوسټ (۲۷ ستمبر ۱۹۹۲) پهٔ اخري
مخ د مور خوا کښې د یو قحط زده ماشوم د
تصویر پهٔ لیدو.

یو خوا اباده او ودانه دنیا
بل خوا ویجاړه او ویرانه دنیا
یو خوا بې غمه او خوشحاله دنیا
بل خوا پهٔ ځان پورې حېرانه دنیا

یو خوا انصاف د بې انصافه منصف
بل خوا مجرم خو څهٔ قصور نهٔ لري
یوا خوا د عدل لویې لویې تلې
بل خوا د حق شمعې څهٔ نور نهٔ لري

یو خوا د مست ژوندون دا مستې هیلې
بل خوا د خوار ژواندانهٔ خوارې ورځې
یو خوا د مستې ځوانۍ مسته خندا
بل خوا ژړا او ناقلارې ورځې

يو خوا د لوړو محلونو ښکلا
بل خوا څپري د لوګو نه ډك دي
يو خوا ته زړونه چې څۀ درد نۀ لري
بل خوا ته زړونه د سلګو نه ډك دي

يو خوا ته هر ارمان پوره پوره دے
بل خوا پېدا لۀ ارمانونو سره
يو خوا ته هر خواهش پوره پوره دے
بل خوا ته مري لۀ خواهشونو سره

يو خوا خندا ده، امېدونه لوے لوے
بل خوا ژړا ده ، او څوربړې هيلې
يو خوا نڅا نڅا، ښكلا ښكلا ده
بل خوا غمژني دي ژړېږي هيلې

يو خواته عشق او حسن غاړه وتل
بل خواته مينه پۀ جهان رسوا شوه
يو خواته يار قربان شو يار د پاره
بل خوا ته پاتې يارانه تنها شوه

خدایه! دِ تا د خدایۍ نه قربان
چې پهٔ ورکوتي ذهن زور واچوم
چې څومره پوه شم، هومره نهٔ شمه پوه
هر څو که زور پرې څومره نور واچوم

خو دا منم منم خاونده! منم
چې نهٔ پهٔ زور نهٔ پهٔ سیالي دي برخې
چې یو خوا څهٔ او بل خوا څهٔ وینمه
گمان کوم چې ازلي دي برخې

## دوه شعرونه

ماته مې د سترګو پهٔ څنبل کښې یار
څنګه پهٔ هنر د زړهٔ خبرې کړې

چې ژوندے ووم نو پهٔ غنو دے راکښلم
ووس مې څله پهٔ مزار ګلونه نولې

# لېونۍ ته

لېونیه خومره ښهٔ یې
نهٔ جانان لرې نهٔ غم
نهٔ ارزو دې زړهٔ کښې شته دے
نهٔ ارمان لرې نهٔ غم

که سپرلے وي که خزان وي
که اباده که صحرا وي
بې پروا لهٔ دلبرانو
بې وفا که باوفا وي

د خمار پهٔ تال کښې زانګې
تهٔ یې مست پهٔ خپل غرور کښې
لهٔ جزا، سزا بې غمه
تهٔ یې مست پهٔ خپل سرور کښې

نهٔ پهٔ ما او تا دې کار شته
د رواج لهٔ قید اذاد یې
ځان ته خپل یو لوے جهان یې
تهٔ پهٔ خپل ځان کښې اباد یې

د رباب پهٔ سوي ترنګ کښي
تهٔ نهٔ سوز او سرور وینې
پهٔ سرو سترګو د جانان کښي
نهٔ جلال او غرور وینې

څهٔ بې نیازه بې پروا یې
تهٔ لهٔ خدایه هم غوښت نهٔ کړې
که سحر وي که ماښام وي
وایه وایه تهٔ پرې څهٔ کړې

ستا وهٔ عشق ته حېرانېږم
نهٔ لمبه شوې نهٔ سوځوېږې
هم محب یې هم محبوب یې
تهٔ د دار پهٔ سر خندېږې

ستا ژوندون همه نشه ده
د ساقي منت بار نهٔ یې
بې پروا یې لهٔ دولته
که فقیر یې لاچار نهٔ یې

عقل ستا منکر لهٔ هر څهٔ
د دلیل لهٔ عذاب خلاص يې
ستا احساس نشه نشه ده
لهٔ ګناه او ثواب خلاص يې

نهٔ لهٔ چا نه تهٔ خفه يې
نهٔ لهٔ چا دې څهٔ ګیلې شته
نهٔ لهٔ ځانه دې زړهٔ ډك دې
نهٔ دې زړهٔ کښې وسوسې شته

نهٔ د چا پهٔ مرګ دې کار شته
نهٔ د چا پهٔ ژوند خوشحال يې
دنيا ښکته ځي که پورته
نا خبر لهٔ هر جنجال يې

نهٔ دښمن نهٔ دې اشنا شته
نهٔ رقیب او نهٔ دې يار شته
نهٔ د چا پهٔ ژوند خوشحال يې
نهٔ د چا پهٔ مرګ دې کار شته

نۀ دې چل د تدبير زده دے
نۀ محتاج تۀ د تقدير يې
لۀ بېگاه صبا بې غمه
نۀ د وخت قېد کښې اسير يې

## درې شعرونه

چې پسته غېږ مې د شها نصيب شي
دغه د يو ارمان خبره کوم

سخ سلام دِ وي زما دې سوي زړۀ ته
چې گاللې يې د عشق تودې سړې دي

داسې ائينې ته چې ور جخته شوه
شوندو ته يې شوندې څۀ خبرې کړې

# د لیوني خواب

نه بې قراري د زړه، نه د زلمیتوب مستي
نه زړه کښې ارزو لرم ، نه زړه کښې ارمان لرم
نه زه خمار پېژنم ، نه په شرنګ پوهېږمه
نه خبر له میني زه، نه ښکلې جانان لرم

نه په غم پوهېږمه، نه خوشحالي پېژنم
نه د چا خندا اورم، نه د چا ژړا اورم
نه د یار په سترګو کښې، زه نشې نشې وینم
نه د یار مسکا وینم، نه د یار خندا اورم

نه د انتظار مزه، نه د ښکلي یار وصال
نه د سپین سحر لیده، نه د ماښامي تیارې
نه غرور د سرو سترګو، نه د ښکلي مخ جلال
نه د مئین زړه درزا، نه د یار ګیلې مانې

نه زه حسن پېژنم، نه یم له جمال خبر
نه امید مې زړه کښې شته، نه مایوسي پېژنم
نه زه کمال پېژنم، نه یم له زوال خبر
نه مې وینه ګرمه شوه، نه بې وسي پېژنم

نۀ مې شونډې ښکل کړلې، نۀ زلفو کښې پټ شومه
نۀ مې يار پخلا کړلو، نۀ راته مسکے شو يار
نۀ چرته لمبه شومه، تود تنور د عشق کښې زۀ
نۀ چرته پتنګ شومه، نۀ شومه لۀ شمعې ځار

نۀ راته چا غېږ راکړه، نۀ چا پۀ ګل اوويشتم
نۀ پۀ سور سالو کښې مې سپين مخ د ليلا وليد
نۀ راته چا "تا" اوکړل، نۀ مې يار پۀ بام وليد
نۀ د لرې لرې مې، سپين مخ د اشنا وليد

نۀ مې ژوندون اور شولو، نۀ مې ژوند لوګے شولو
نۀ مې ژوندون سوز شولو، نۀ مې ژوندون ساز شولو
نۀ د يار د شونډو خوند، نۀ د زنې خال ديدار
نۀ مې ژوند کښې مينه شته، نۀ مې ژوندون راز شولو

نۀ چا ځان ته جخت کړمه، نۀ چرته چا ښکل کړمه
نۀ چرته چا ياد کړمه، نۀ د چا ارمان شومه
نۀ چا راته وکاتۀ، نۀ چا راته وخندل
نۀ د اوربل ګل شومه، نۀ د چا جانان شومه

نهٔ شوم لهٔ خپل ځان خبر، نهٔ شوم لهٔ جهان خبر
دغه زندگي زما، دغه مي ژوندون شولو
يو راپورې وخاندي، بل راپورې وخاندي
تهٔ ورته پسخېږې چي، دا څنگه جنون شولو

---

## درې شعرونه

ما يې ستاينه پهٔ کمځو کښې د سور گل چي اوکړه
پهٔ اننگو يې خولې راغلې حيا څهٔ وې راته

زهٔ ووم د جانان، جانان زما منزل
څنگه شو احسان/ خطا يو بل نه

که نعمت دے پهٔ دنيا کښې خوصحت دے
خو نعمت د ښکلې يار هم بې مثال دے

# هلمند

د محترم عبدالباري جهاني د يو نظم (څرنګه هلمنده) د لوستلو نه پس. د جهاني صيب نه ډېر په معذرت سره.

خدائيګو جهانيّ چې ستا د چيغو زور مې ولېدے
يخې مې څپې شوې، سارۀ څاڅکي کرنګونه شول
مستي مې وې غاړې د کلونو لۀ خمار څڅه
ختم مې خوبونه شول، حېرانه مې موجونه شول

تا خو راته وېلي "چې ژوندي به مړۀ اوروونه سي
څاڅکي به يو کېږي ځيني جوړ به سېلابونه سي
يو به سي، راويښ به سي، قوي به سي، رهي به سي
مات به زندانونه سي، خپلواك به اولسونه سي"

تا خو راته وېلي "چې شاهد به اسمانونه وي
ژوند به وي، بري به وي، د فتحې به جشنونه وي
تښتي به پټېږي به، مېلمه او کوربانۀ رهزن
موږ به يو، قاضي به وي، د عدل به حکمونه وي"

خوا!
کوزه مې د خدای د خدمتګارو چیغې واورېدې
وېل یې پهٔ افسوس شاهد به اسمانونه وي
ژوبله به وي مرګ به وي، ژړا او انګولا به وي
لوټ به وي تالان به وي شاهد به دغه غرونه وي

خپلو کښې پهٔ جنګ دي ورونه ګورئ د جهاد پهٔ نوم
ډك لهٔ پښتنو سینو به خدائیګو لحدونه شي
دا به د تاریخ پهٔ پاڼه تور داغ هسې پاتې شي
ډك لهٔ ککریو چې د ورونو ګرنګونه شي

یاد لره هلمنده! چې برباد به دا دشتونه شي
یاد لره هلمنده! چې پردي به دغه غرونه شي
نهٔ به شپون شپلۍ وي، نهٔ رمې نهٔ به شپلیې وي
ورانې به کېږدۍ شي، او سارهٔ به دا اورونه شي

خدائیګو جهانيَ چې ستا د چیغو زور مې اولیدے
یخې مې ښې شوې، سارهٔ ښاښکې کرنګونه شول
مستې مې وې غارې د کلونو لهٔ خمار ښخه
ختم مې خوبونه شول، حېرانه مې موجونه شول

ګورئ نهٔ! د غرو څوکې سورې مې پهٔ ګولو شولې
ګورئ نهٔ! اوبهٔ مې د افغان پهٔ وینو سرې شولې
ګورئ نهٔ! چې ناوې د وطن مې در پهٔ در شولې
ګورئ نهٔ! چې پېغلې د وطن مې بې اسرې شولې

لاړل تار پهٔ تار شول د افغان ملت درانهٔ ټبر
اولغړېدهٔ اوتغرېدهٔ ستړي او ستومانه شول
څومره یتیمان شول څومره کونډې څهٔ د پاره شوې
څنګه در پهٔ در شول څنګه بې سر او سامانه شول

یره د دشتو مې څنګه غېږه کښې راغونده شوه
خروش مې د څپو غه لېونې څنګه خاموشه شو
رعب د تورو کانو او وحشت د دنګو غرونو مې
مست هغه غرور مې غرڅنې څنګه خاموشه شو

خدائیګو چې د هر وخت اهرمن مې پرزولے دے
خدائیګو چې د هر وختِ نمرود مې سوځولے دے
خدائیګو چې د هر وختِ ظالم ته مې ویٔلي دي
ما هم لهٔ هر چا نه انتقام خپل اخستلے دے

تهٔ مي لهٔ فيرنګ د متو زور پوښتنه اوکړه لېږ
څنګه يي پهٔ تېښته کښي ويل چي دا څو غرونه دي
څومره پهٔ وحشت به يي بچي سيني ته جخت کړلو
مه ځئ غه څوا مه ځئ ګورې هلته نهنګونه دي

اے پښتنو ورونو سره يو شئ يو قوت شئ بيا
ووايي لايق چي د "چونغرتراني" ووايي
يو ځلي چي بيا تيارې شي لرې د پښتون لهٔ کور
يو ځلي چي بيا تول د سحر تراني ووايي

بيا چي اننګو کښي د کابل مي سرخي ووينم
بيا لهٔ قندهار چي د بارودو لوګي لرې شي
وخاندي ښکلا چي د پغمان پهٔ نرمو شوندو کښي
بيا لهٔ ننګرهار چي د بارودو لوګي لرې شي

بيا جلال اباد چي پهٔ جلال کښي يو ځل ووينم
بيا چي د غزني يغي چيني مي شنهٔ سيندونه شي
بيا چي پهٔ مزار د سرو ګلونو څادر خور کړمه
بيا چي راواپس د پکتيکا پاستهٔ بادونه شي

بیا چې د کونړ ځپې ځلک ځلک شي سره مستې شي
بیا چې د امو اوبهٔ مسکې شي ابشارونه شي
بیا چې بدخشان لکه د نمر هسې روښانه شي
بیا چې د چونغر گټې گلونه شي لعلونه شي

یو ځلې چې بیا افغانستان کښې امن امن شي
یو ځلې چې بیا گودر اباد حجرې ابادې شي
یو ځلې چې بیا افغانان ښکل کړي د یو بل تندي
یو ځلې چې بیا ښارونه ښاد کوڅې ابادې شي

دوه شعرونه

وادې ورې احسان٬! د بادار بچې
لاس کښې مې د تورې اتکل هم شته

چې پسته غېږ مې د شها نصیب شي
دغه د یو ارمان خبره کوم

# سپرلي ته

ګوره لا خوله پټې دي
دلته د ژوندون نغمې
لا پټې تیارو کښې دي
هم د صباؤن نغمې

لا د سپین سحر زېړے
پټ په سور شفق کښې دے
دلته د ماښام خمار
پټ په سور افق دے

مه راځه لا مه راځه
دلته سره اورونه دي
تا ته سره ګلان ښکاري
دا سره پرهرونه دي

زړونه د غوټیو نن
لا تکوروَل غواړي
پانړو د ګلونو نه
دوري لر کول غواړي

دا د شین چمن غوټی
ګوره لا غمژني دي
دا سپرېدل نهٔ غواړي
دا غوړېدل نهٔ غواړي

مه راځه سپرلیه ګوره مه رانهٔ شي

دلته لا د شپون شپېلۍ
دلته د بلبل چیغا
بنده ده ایساره ده
دلته د نسیم هوا

لا مي مرور دے یار
ما سره پخلا نهٔ دے
مه راځه لا مه راځه
لا زما اشنا نهٔ دے

لا خو د ګل پانو کښې
هغه رنګیني نهٔ شته
لا خو د صبا باد کښې
هغسي مستي نهٔ شته

لا د اباسین څپې
ګورې نهٔ چې غلې دي
لا د پېرغل ګاګرو کښې
زړکي مروري دي

ښکلي د ګلشن غوټۍ
ګوره لا دردمنې دي
څومره دا خوږمنې دي
دا موسېدل نهٔ غواړي
دا خندېدل نهٔ غواړي

مه راځه سپرلیه ګوره رانهٔ شي

لا مو د احساس رڼا
ګېره پهٔ تیارو کښې ده
لا زمونږ د بخت بېړۍ
ګېره طوفانو کښې ده

لا د وخت تیارو زمونږ
تلك را ایسار کړې دې
لا د اهرمن پنجو
ژوند تار په تار کړې دې

دلته آذري بتان
خپله واکداري لري
دلته فرعوني خدایان
خپله باچاهي لري

لا مو فکر غلې دې
مات مو قلمونه دي
هیلې په دار شوې دي
سترې امیدونه دي

دې غیور وطن غوټۍ
خومره دړدېدلې دي
ګوره وېرېدلې دي
دا نخېدل نه غواړي
دا ګډېدل نه غاړي

مه راځه سپرلیه ګوره رانه شي

# سوغات

د سپوږمۍ رڼا په ورو ورو زیاتېدله
د ماښام تیارې چې ورو ورو تتېدلې
خپل ارمان کښې مې ژوندون لاهو لاهو وه
ترمې اوښکې مې په مخ رابهېدلې

زه د سیند په غاړه ناست فکر کښې ډوب ووم
د سپوږمۍ رڼا اوبو کښې لمبېدله
چې په خیال کښې د لیلا و خوا ته لاړم
له حیا نه تکه سره شوه شرمېدله

شو ناڅاپه مې نظر د سیند څپو ته
چې په سر یې یو ګلاب له خندا شین وه
په شفق د نمر سرخې راغونده شوې
جوړ تیارې راخورېدلې نمر غمګین وه

چې زما د زړه پرهر له خندا شین وه
که مې شوندې د لیلا وې موسېدلې
چې شهید په خپلو وینو کښې لت پت وه
که له زړه د لالا وینې بهېدلې

جوړ له بره د وصال د پیغام زیرے
دا چې داسې پهٔ تلوار څپې څپې ځي
چې مَین به لره ناست وي انتظار کښې
چې پهٔ منډه د اوبو پهٔ سر د شپې ځي

دا چې داسې ناز نخرې کوي اوبو کښې
جوړ د ډېرې نازنینې د لاس ګل دے
دا چې شین دے لهٔ خندا پهٔ توره شپه کښې
جوړ د ډېرې خنده رویه د اوربل دے

"یه د ګلاب ښکولکیه ګله! څه پهٔ مخه دې ښه"☆
پهٔ تیارو کښې دا چې زیرے د رڼا یې
د وصال پیغام دے لیک پهٔ هره پاڼه
تهٔ خو خدائیګو چې سوغات یو بې بها یې

☆ د قلندر صیب منت باریم

## یو شعر

دا خودې عظمت د قلندر د فن
ووس ګنې احسان/ غزل چرته دے

# هیله

د غرۀ لمن کښې د شنو ونو خوا کښې ښکلې پېغله
وه د رنو اوبو ویالې پۀ غاړه ناسته غلې
لۀ تکو سرو سترګو یې سپینې اوښکې ورو څڅېدې
جوړ د چا ورکو لېونو خیالو کښې لرې تللې

سترګو کښې پندې مایوسۍ یې د زړۀ حال وئیلو
لۀ ښکلې مخ یې د ځوانۍ وقار مستۍ څڅېدې
لۀ غرېوه ډک سارۀ سارۀ اسوېلې پټ پټ ختل
پۀ ناز ساتلې شوندې ورو ورو پۀ ژړا رپېدې

لکه تصویر پۀ غتو غتو د چا لار ته ګورې
لاس کښې امېل یې د رامبېل چامبېل ګلونو وچ وۀ
پۀ تورو څنو کښې یې سور د ګلاب ګل مړاوی وۀ
وېښتۀ ببر یې تار پۀ تار وو د ګلونو وچ وۀ

پۀ یوۀ ښاخ کونترو یو بل نه خولګۍ اخستې
غرۀ کښې زرکانو لۀ مستۍ ځینې نخرې کولې
راجمع شوي بلبلان وو د ګلونو خوا کښې
پۀ مینه مینه یې د تېر سپرلي قیصې کولې

ساړهٔ ساړهٔ نسیم پهٔ مینه زنګول ګلونه
ښکلي مهینکي تیتي هم به زنګیدل ورسره
د خوشبویانو دلي دلي لهٔ هر لوره راتلې
چې پهٔ سینو کښې زړونه هسې مستیدل ورسره

سپیني رڼې اوبهٔ وې خوا پهٔ خوا چې تللې سره
ښارو پهٔ مینه لمبیده د یوهٔ کاني خوا کښې
دلته تارو د خپل ښایئست پهٔ ننداره ولاړ وهٔ
هلته تنزري کړنجیدې د دنګو ونو خوا کښې

خو دغه پیغله وه لهٔ هر څهٔ بې خبره ناسته
تنکی ځواني یې د غم ژامو شپیلوله ورو ورو
لکه پهٔ قبر د شهید چې دیوه ژاړي ځان ته
داسې دا پیغله د چا غم کښې ژړیدله ورو ورو

چې سرې منګولې نمر د غرهٔ پهٔ کانو ښخې کړلې
خو دا وه هاغسې لا ناسته انتظار کښې د چا
ماښام نغښتل توره لمن کښې د رڼا بخرې
خو دې نیولے وچ امیل وهٔ ناسته لار کښې د چا

شاید پهٔ دې هیلې چې رابه هغه تللې یار شي
ورته پهٔ غاړه به امېل کړي د رامبېل ګلونو
ورته به اوښایي ډالۍ د سور ګلاب څنو کښې
ورته به حال بیانوي د هغه تېر وختونو

## دوه شعرونه

تهٔ خو شولې ډوبه د غزل پهٔ ښایستونو کښې
مونږ ته دې د زړهٔ سوې پهٔ قربان او زار کښې پرېښودو

څنګه به دې هېر کړم تر قیامته دِ تا دا احسان
ګل چې د وربل دې نن زما مزار کښې پرېښودو

# جانان

جهان څۀ دے؟ دنيا څۀ ده؟
ستا د حسن پلوشي دي
خمار څۀ دے؟ سرور څۀ دے؟
ستا پۀ سترګو کښې نشي دي

ژوندون څۀ دے؟ سکون څۀ دے؟
ستا پسته غېږه کښې خوب دے
ښايئست څۀ دے؟ شباب څۀ دے؟
ستا د حسن پېغلتوب دے

مينه څۀ؟ محبت څۀ دے؟
ستا پۀ سرو شونډو مسکا ده
جلال څۀ دے؟ جمال څۀ دے؟
ستا د سرو سترګو رڼا ده

مستي څۀ ده؟ سرور څۀ دے؟
بس مرۀ مرۀ کتل د يار دي
سپرلے څۀ دے؟ بهار څۀ دے؟
انګي سرۀ د دلدار دي

دا وخت څهٔ دے؟ او بخت څهٔ دے؟
تا پهٔ غېږه کښې نيول دي
قسمت څهٔ دے؟ نصيب څهٔ دے؟
دِ تا شونډې ښکلول دي

ارمان څهٔ دے؟ ارزو څهٔ ده؟
ستا د ښکلي مخ ديدار دے
لمحه څهٔ؟ وختونه څهٔ دي؟
ستا وصال دے، انتظار دے

سحر څهٔ دے؟ سپېدې څهٔ دي؟
ستا پهٔ زنه شينکے خال دے
شفق څهٔ دے؟ ماښام څهٔ دے؟
ستا پهٔ مخ د زلفو جال دے

د شاعر تصور څهٔ دے؟
پهٔ لفظونو کښې نغښتل ستا
د مجنون فکرونه څهٔ دي؟
پهٔ خيالونو کښې نيول ستا

# ستا تصویر

لکه ماشوم چې نازوي څوك داسې ستا تصویر مې
زړۀ پورې جخت مې تینګ نیولے ښکلولے مې هم
کله مسکے کله به کتۀ کتۀ راته شین لۀ خندا
ما چې پۀ بیا بیا ښکلولے نازولے مې هم

هاغه سور ګل د قربانۍ او د وفا پۀ نوم مې
ستا پۀ توپې توپې وربل کښې چې تومبلے وۀ ما
تۀ ګوره اوس دې هم وربل کښې څنګه تاند ولاړ دے
لکه سجه سجه لۀ بوتې شوکولے وي چا

ما اچول دې سپینو لیچو کښې بنګړي چې شنۀ شنۀ
رالیاده وي راته سپوږمي کښې د سپرلي هغه شپه
غه چې نیوللي اوربلکي مو د سیند پۀ غاړه
او هم کوله دې د خپل د ماشوموالي قیصه

ماته پۀ شوندو پۀ نرۍ نرۍ مسکا کښې کوي
د تېر رختونو د وصال هغه شېرینې قیصې
دغه د روڅو مینځ کښې خال دے د تندي پۀ لمن
رالیاده وي دې د سرو سترګو د جلال غه لمحې

تا به تومبلي وو کمخو کښې رنګ په رنګ ګلونه
ما به ویئل چې راغونډ شوي بهارونه د وخت
تا به په لنده زنه کېښول د رانجو خالونه
ما به ویئل راجمع شوي ښائیستونه د وخت

دِ تا تصویر خو سرمایه زما د ګرد ژوندون ده
هغه تعبیر مې د خوبونو په کښې اوس هم ښکاري
تقدیر مې ورانې کړې په لاس کښې د وصال نخښې جوړ
ګنې وعدې د ماښامونو په کښې اوس هم ښکاري

---

## یو شعر

په تور د محبت یې که د دار فیصله وشوه
اِحسان خومره ساده دے لا د یار پلونو ته ګوري

# پښتون

ازادي زما فطرت دے غلامي قبلواي نۀ شم
د ځان واك اختيار و بل ته كله زۀ وركواي نۀ شم
چې ګذار زما پۀ سر كړي هغه زۀ خپلواي نۀ شم
د فريب پۀ تال كښې هسې ګوره نور زنګېداي نۀ شم
حق به غواړم حق به اخلم زۀ خپل حق پرېښوداي نۀ شم
د چا پښو ته د چا پښو ته ګوره زۀ تيتېداي نۀ شم
يوه څړيكه د سحر يم پۀ تيارو پټېداي نۀ شم
نن بېدار زما ضمير دے پۀ دوكو تېروتاي نۀ شم

ازادۍ او قام د پاره پۀ مېدان كښې جنګېداي شم
پۀ سينه باندې زخمونه قام د پاره زۀ خوړاي شم
د غاصب نه ګوره خپل حق زۀ پۀ زوره اخستاي شم
بت شكن يمه ملګرو زۀ بتان هم ماتواي شم
ابراهيمؑ غوندې پۀ مينه زۀ اورونه قبلواي شم
د موسیٰ غوندې و نيل ته بې خطرې ورګډېداي شم
اناالحق د پاره واورى زۀ پۀ دار باندې ختاي شم
د طوفان غوندې راتلاى شم لكه تندر پرېواتاي شم

سپېلني غونډې په مينه په انګار کښې ترړقېداي شم
په تودو شکو بلالؓ غونډې احد احد کواي شم
لکه توره د خالدؓ زهٔ په مېدان کښې برېښواي شم
زهٔ محمودِ غزنوي يم په سومنات باندې ختاي شم
زهٔ همت د ابدالي يم پاني پت کښې جنګېداي شم
زهٔ د ظلم تورو شپو کښې د حق شمع بلېداي شم
زهٔ وطن او قام د پاره خپل وينه توېواي شم
نهٔ به شم نهٔ ختمېداى شم نهٔ چا ورك نهٔ ورکېداي شم

## دوه شعرونه

زهٔ د خپل کلي په ويجاړ ګودر سپېرهٔ خزان کښې
د چا سپرلے اوربل لتوم څهٔ ساده يم

---

څه چې د جنت ننداره بيا وکړو
پانو د ګلونو کښې پټېږو نهٔ

# ستا تصور په مخ اخستے یمه

له غمه ډک هجر زړېلي ژوند کښې
چې ستا یادونه زما خواته راشي
سر په زنګون کړم تصور کښې ډوب شم
زړهٔ شي راډک اوښکې ژړا ته راشي

له خندا شنهٔ وې راته لرې لرې
شي راخوره د تصور دنیا کښې
بیا پستې نرمې خوشبوداري زلفې
په مینه مینه کړې خورې هوا کښې

سره لوپټه په دوارو لاسو کښې بیا
ونیسې منده کړي ګلونو مینځ کښې
کله په یو کله په بل بوټي کښې
شي رانه پټه د ګلونو مېنځ کښې

ګلونو مېنځ کښې راته "تا" وکړې بیا
سره لوپټه په ځان را وغوړوې
په مینه مینه داسي ورو غوندې بیا
په سپینو لېچو بنګړي اوشرنګوې

بیا تهٔ پهٔ غلا غلا د ګلونو مېنځ نه
کږه وږه او پهٔ ادا راشې
سترګې مې پټې کړې پهٔ سرو لاسونو
د شا لهٔ لورې نهٔ پهٔ غلا راشې

لهٔ خندا شنه شې رانه منده کړې بیا
پرک ویې لاسونه کېږې ماته ماته
د ګل پهٔ پانه دې پښه اوخوښېږي
لهٔ خندا شنه چې درومې شاته شاته

بیا کړې رامنده راتر غاړه اووځې
وایې دِ تا دِ غاړې هار جوړېږم
بیا شې مسکۍ راته پهٔ مینه مینه
وایې احسان، څنګه زهٔ ښکارېږم

ستا تصور پهٔ مخ اخستے وومه
زهٔ نا خبر لهٔ دغې پراخې دنیا
تورې تیارې وې د ماښام راخورې
پهٔ تماشه د اسمان ستورې زما

# د فراق شپه

یو خوا به باد د نسیم ورو ورو تخنول شروع کړل
بل خوا به تا واړهٔ واړهٔ پهٔ پستو شوندو خندل
یو خوا به سپینه سپوږمۍ ورو ورو راختله راختله
بل خوا به تا خورو ورو زلفو نه پټ پټ کتل

هاغه د سیند پهٔ غاړه ناست به وو چې غاړه غړې
سپینه سپوږمۍ د سیند څپو کښې نڅېده به څنګه
غه د سپوږمۍ پسته مهینکې او نیازبنکې رڼا
د سیند اوبو کښې پهٔ هر لوري رپېده به څنګه

هاغه ډالۍ د سور ګلاب د سمندر پهٔ غاړه
تا ویل دا نخښه د منزل د یوکېدو پهٔ لوري
غه قسمونه د پېرغل پهٔ لویو لویو ګټو
هاغه وعدې ستا د منزل د یوکېدو پهٔ لوري

هاغه چې تللې به قطار قطار سپوږمي کښې زانې
کله رنګې کله راجختې خوا پهٔ خوا به چې شوې
تا به ویل "څومره مینه کاندي یو لهٔ بلې سره"
دوي لهٔ مستۍ نه پهٔ خندا سر پهٔ ګډا به چې شوې

هاغه پۀ قصد به دي لۀ اوښکو سترګې ډکې چې کړي
هاغه پۀ قصد به چې خفه شوې مروره به شوې
هاغه پۀ زور به دي چې شوندې بوخې بوخې کړلې
هاغه پۀ قصد به چې پرېشانه شوې دلګيره به شوې

تۀ چې پۀ ګپو به له ما نه مروره شولې
ما پۀ رښتيا به درته څومره منتونه کول
تا به ويل "نا سبند ته وردانګم پخلا کيږمه نۀ"
ما به د مينې پۀ نوم څومره قسمونه خوړل

نيامده! به شنه شوې لۀ خندا ويل به دې "توقې کوم"
خندا خندا کښې به دې ويل چې "خفه نۀ شې اشنا"
خوره وره به مې چې غېږ ته بيا راپرېوتلې
زما پۀ رګ رګ کښې به مړه ساه راژوندۍ شوله بيا

تۀ چې خوره وره به پرېوتې پۀ غېږ کښې زما
ستورو به څنګه و يو بل ته اشارې کولې
چې زما غېږ کښې اوښتې راوښتې به ګلې
پۀ شين چمن کښې اوربلکو به نخرې کولې

چې ما به ورو درته للو للو شروع کړل ګلې
لۀ خوبه ذکې به شوې ورو ورو خمارې سترګې ستا
لکه د ګل ممنکې پاڼه به پسته پرېوتې
څنګه بې غمه به اوده شولې پۀ غېږ کښې زما

د نمر شغلې به دې سحر چې پۀ مخ پرېوتلې
تا خمارې سترګې به داسې پرانستلې ورو ورو
لکه مېخوار چې پۀ نشه کښې غلې غلې ګورې
که نا تنکی غوټی وې ګلې غوړېدلې ورو ورو

خو دې ناترسه زمانې پۀ مونږ پېرزو نۀ شولو
زمونږ د مینې ژوندون لولپه لمبې لمبې شو
پۀ تا یې تور پورې کړو زۀ زمانې اورتلم
د مینې پاك معصوم نوم خاورې شو ایرې ایرې شو

هاغه د تېرو شپو یادونه د فراق پۀ شپه کښې
لکه د ژوند خوارۀ خوبونه رایادېږي ورو ورو
هغه تېر شوي ماښامونه ګلې ستا پۀ غېږ کښې
لکه هېر شوي پېغامونه رایادېږي ورو ورو

# نۀ پوهیږم

که ګیلې کوم لۀ خدایه
پۀ ګیلو خدای خفه کیږي
که بیا هیڅ نۀ وایم چپ شم
نو مې زړۀ کله صبریږي

که د بت پۀ سر ګوذار کړم
غورزوي مې بیا انګار ته
که وۀ خدای ته غاړې ووځم
خېژوي مې بیا وۀ دار ته

که د حق خبرې وایم
ګورې زهر راکوي بیا
د موسیٰ خدای که منمه
فرعون کله مې پرېږدي بیا

که بیعت د یزید نۀ کړم
پۀ رڼا ورځې قتلیږم
که موسیٰ غوندې مخلص شم
ګورې بیا هم تباه کیږم

که د قام بېرغ را اخلم
نو اسلام ته خطره ده
که جرګه مرکه کېږم
د چا بام ته خطره ده

که منزل په لوري ځمه
لهٔ منزل ښخه ورکېږم
او که نهٔ چرته تپ کښېنم
نو بیا خنګه به رسېږم

پهٔ محل کښې سکون نشته
پهٔ جونګړه کښې ژوند خوار دے
چې د کوم ښیز طمع وکړم
که یو اور دے بل انکار دے

که ژړېږم امتحان دے
که خندېږم خو مستي ده
چې پهٔ یو کښې مې خېر نشته
دغه څرنګ زندګي ده

که لیلا غواړم پهٔ جار زهٔ
نو بیا روغ نهٔ یم مجنون یم
که جوي شیر ته غاړه ږدمه
بیا عبث پهٔ شیواخون یم

که د یار نوم پهٔ جار اخلم
لهٔ رقیب نه خطره ده
که یي پټ رېبار ته وایم
لهٔ غمازه خطره ده

چي بی غمه لهٔ دنیا شم
نو بیا دا رهبانیت دے
او که تا دنیا کړم خپله
نو بیا دغه مادیت دے

لهٔ هغهٔ جهان وېرېږم
خو پهٔ دې جهان کښي تنګ یم
نهٔ پوهېږم چي څهٔ اوکړم
لهٔ خپل ژوند سره پهٔ جنګ یم

# خوب

د ښوارلسم سپوږمۍ رڼا کوله
په کټ کښې اوده وومه يو خوب مې ليدو
څه وارخطا غوندې ملګرو وومه
زړه مې بې واره درزېدو دربېدو

لږ داسې لرې يوه ښکلې پېغله
خوا ته زما شنه لۀ خندا وه راتله
نرۍ يې غاړه کښې يې اوبۀ ليدې شوې
ډکه لۀ نوره لۀ رڼا وه راتله

زلفې يې تورې په شا څنډ وهلې
فضا شوه ډکه خوشبويانو څخه
لۀ سپين رخساره يې شغلې ختلې
دنيا وه ډکه رڼاګانو څخه

راتله راتله چې راتر غاړه وته
نو داسې ځان سره لږ وېرېدم
ما ويل چې "څۀ غوارې او څوک يې کلې"
لۀ وېرې ورو ورو داسې زۀ رپېدم

لېږه خفه غونډې شوه هغه خوا شوه
ویل یې چې "ګوره څنګه هېره دې کړم"
"ستا د خوبونو چې تعبیر وومه زهٔ
نو وایه ولې هېره دې کړم"

"دسحر سترګه راختله چې به
غه قسمونه دې یادېږي که نهٔ؟
غه پهٔ تندي به دې چې ښکل کړمه زهٔ
هاغه لوظونه دې یادېږي که نهٔ"

ما ویل "منم! ګلې دا هر څهٔ منم
خو خپل تقدیر باندې مې وس نهٔ رسي
چې تدبیرونه یې ناکام کړل راته
داسې زورګیر باندې مې وس نهٔ رسي"

"د سحر سترګه راختله چې به
غه قسمونه مې تر اوسه یاد دي
غه پهٔ تندي به مې چې ښکل کړې ګلې
هاغه لوظونه مې تر اوسه یاد دي"

د محبت په هغو شپو مې قسم
خدأیګو چې تا زه هېرولای نه شم
ستا په ورو ورو کيلو مې قسم
بغېر له تا ژوند تېرولای نه شم

ته د خوبونو مې تعبير وې منم
خو غه خوبونه مې رښتيا نه شولو
زما د ژوند د زندګۍ ګلونه
هغه شول مړاوي په خندا نه شولو

زما د مينې د منزل نخښه وې
خو داسې ستن شوې د ارمان تيارو کښې
چې د امېد په رڼا نه موندېږې
ورکه شوې پټه شوې د هجر شپو کښې

زما د مينې کاروانونو ګلې
په سترګو پټ کړه ستا د حسن منزل
ښه په امېد په خوشحالۍ روان وه
وه ناخبر له ناخبره اجل

ناساپه تندر مې پهٔ کور پرېوتو
د امېدونو دنیا ورانه شوله
تهٔ د بل چا د خوب تعبیر شوې ګلې
غه د خوبونو دنیا ورانه شوله

ستا شه خندا او خوشحالی پهٔ نصیب
شه مبارك مې پرېشانې او ژړا
ستا شه راحت قرار سکون پهٔ نصیب
زما دې وې بې قرارې او سودا

زما د فکر و تصور دنیا کښې
اوسې به تهٔ هم که وختونه تېر شې
خدأیګو لهٔ مانه هېرېدلاې نهٔ شې
که ډېر کالونه ډېر عمرونه تېر شې

## یوشعر

داسې راته ښکارې تعبیر نهٔ لرې
وینمه یو ښکلے خوب که هره شپه

# ژوندے ضمير

د سرو زخمونو قهقهو پۀ مينځ کښې
زۀ دے د سپينې خولې خندا ياده کړم
دغه د غم ډکې سلګۍ هېرې کړم
زۀ دے پۀ سرو شوندو مسکا ياده کړم

زۀ دے ګلونه پۀ ازغو کښې وينم
او صفتونه د بهار دے وکړم؟
د تمهت ګوته راته نيسي چې بيا
زۀ پۀ ژوندون کښې داسې کار دے وکړم؟

حق مې دے خلق پۀ تېرې توره وهي
زۀ غلے ناست لکه د شل دے يمه
زۀ دے خپل حق د غاصب لاس کښې پرېږدم
زۀ چپه خولۀ لکه د غل دے يمه

زۀ دے د مېو دک جامونه وڅښم
خو د شهيد وينه دے هېره کړمه
زۀ دے جعفر او د صادق غونډې شم
د خپل وطن مينه دې هېره کړم

دلته لېلا دې په محل کښې ستايم
هلته مجنون دے په صحرا کښې پرېږدم
زۀ دے شېرينې محل خوا کښې گرزځم
هلته فرهاد دے د غرۀ خوا کښې پرېږدم

که په سقراط د زهرو جام څښلے شي
داسې قانون باندے تنقيد به کوم
که لۀ حسېن نه ککرۍ پرېوزي
نو زۀ غندنه د يزيد به کوم

که غوروزولے شي خليل لمبو ته
ورته به اور کړم د نمرود محل ته
او که د دار په سر ودرېږي منصور
د اناالحق نعره به کړمه هلته

زۀ د بابړې زمکه سره ياده کړم
چې د پښتون غېرت په شا وزغلي
زۀ د بابا د همت چيغه اوکړم
چې د پښتون همت په شا وزغلي

که ازادۍ نغمې پښتون هېرې کړې
زهٔ د اجمل شعور به وتخنوم
که پیرنګیان پهٔ پښتونخوا رادرومې
د باچاخان ملګرې بیا پاڅوم

زهٔ لکه پړق به د برېښنا رسېږم
که پاني پت نه ابدالي نعره کړي
د سومنات مندر به ونړوم
که لهٔ سومنات نه غزنوي نعره کړي

زهٔ د خوشحال توره پهٔ ترخ کښې لرم
که اورنګیانو چرته زور ښائیلو
د بابا سور بېرغ به جګ ساتمه
که پیرنګیانو چرته زور ښائیلو

د هر یزید د هر شمر مخه به
لکه حسېن پهٔ کربلا کښې نیسم
د هر انګرېز د هر سامراج مخه به
لکه بابا پهٔ پښونخوا کښې نیسم

د وخت زامن که زما خوله بندوي
زه خو ژوندے ضمیر یم نه چپ کېږم
د غلامۍ زولنې نه خوښوم
خبر دے د دار په سر که زه ودرېږم

که د چا زړه بدېږي بد دې شي خبر
زه یم د حق ملګرے حق به وایم
که څوک منزل ته نه ځي زړه یې خپل دے
زه د منزل د لور سبق به ښایم

## دوه شعرونه

دا بیا د چا په یاد کښې دې زخمونه تازه شوي
احسان، چې دې داسې غزلزار مازیګرے دے

بیا به د حسرت غزلې ولولم
ووس راته احسان دے څه خبرې کړي

# لېـلا تـه

کـوم یـو ارمـان دے چې مې زړهٔ کښې ایـرې شوے نـهٔ دے
کـومـه ارزو ده چې مې زړهٔ کښې سوځـوېدلې نـهٔ ده
کـومـه ګـړۍ مې د ژونـدون بې لـهٔ سلګـو تېـره ده
کـومـه لـمحه ده چې پـهٔ چیـغـو ژړېدلې نـهٔ ده

غـه کـومـه ساه ده چې د ژونـد مې پـهٔ دار شـوې نـهٔ ده
کـومـه جذبـه ده چې مې زړهٔ کښې ایـرې شـوې نـهٔ ده
هغـه کـوم خـاشکـے مې د ویـنې دې چې ونـهٔ سـوځـېـد
کـومـه ګـیلـه ده چې مې زړهٔ کښې پاتـې شـوې نـهٔ ده

هـر یـو قـدم مې د ژونـدون ایښـے پـهٔ سـرو سکروټـو
هـره مـسکا مې د ژړا پـهٔ غـېږ کښې وخـنـدېـده
هـاغـه د سپـین سحر چې هیـلـه مې پـهٔ سترګـو کښې وه
هغـه د تـور مـاښـام پـهٔ غـېږ کښې هـسې ورژېـده

زهٔ خـو رښـا یـمـه د امـن او د صلـحې کـور یـم
ظـالـم مې وژنـي پـهٔ خـپـل کـور کښې د فـسـاد پـهٔ الـزام
زهٔ چـپـه خـولـهٔ یـم ورتـه ګـورمـه پـهٔ غـتـو غـتـو
دوي رانـیـولـے د مـرۍ نـه د بـېـداد پـهٔ الـزام

چې هر يو رګ مې د وجود ګلي زخمي زخمي دے
زۀ د سپرلو او د ګلونو قيصې ښکلګه وکړم
هاغه چې پېغلې پۀ ګودر لۀ مستۍ مات منګي کړي
لۀ مستۍ ډکې د نازونو قيصې ښکلګه وکړم

زۀ دې وربل کښې قط پۀ قط ګلونه يو يو وينم
ستا د سپرلي سپرلي وربل ستاينه ښکلګه وکړم
زۀ ګورې اخلمه د تور ښامار پۀ ستوني کښې ساه
ستا د سکني سکني وربل ستاينه ښکلګه وکړم

زړۀ مې سپرلے دے د فطرت پۀ ښکلاګانو مئين
زړۀ مې د ګل پانه کښې بوي د محبت اظهار دے
درته مې ستايي پۀ ګودر چې تولي پېغلې جونې
زما زړګے خو پۀ قدم قدم لۀ تا نه ځار دے

چې ومې نۀ ستايلې ځار شم خفه نۀ شي ګورې
پۀ ترمو اوښکو مې د زړۀ درد ته تکور وركوم
د بې وسۍ تر احساس لاندې چې ژوندي مې ښخ دي
هغو فكرونو ته ياغي غوندې يو شور وركوم

کله راغوند کړم چې د قام زلمي د لر او بر نه
او اهمیت ورته د علم او هنر وښایم
د اتفاق د پاره خواست اوکړمه ټول اولس ته
وران تصویرونه په دنیا ورته د شر وښایم

بیا به لیکمه د سپرلو او د ګلونو قیصي
ستا د سپرلي سپرلي وربل ستاینه هم به کیږي
ما به د تور ښامار په ستوني باندې پښه ایښي وي
ستا د سکني سکني وربل ستاینه هم به کیږي

بیا به دې اوستایم سرې شوندې په غزل کښي لیلا
بیا به دې واچوم له زلفو نه اوچت تالونه
زانګو به خاندو به په یو بل به شیندو ګلونه
په زوره زوره بیا وایو د احسان شعرونه

## یو شعر

هر څو واوریدم احسان که تر څلویښتو
خو د ژوند په سپین او تور باندې پوه نۀ شوم

# سپرلیه!

اې سپرلیه! ستا راتلۀ دې مبارک وي
ګلدستې دې د ګلونو راله راوړې
رنګینۍ دې کړې خورې پۀ هر یو لوري
هم ډالۍ دې د رنګونو راله راوړې

چې سرخي د یار د شونډو دې راوړې
که ښکل کړي اننګي دې د شها دي
خوشبويۍ دې چې نیولي دي پۀ غېږ کښې
راخندلي دې جوړ زلفي د لیلا دي

اې سپرلیه ستا راتلۀ دې مبارک وي
دا منمه چې تۀ نخښه د وفا یې
دا منمه تۀ پیغام د خوشحالۍ یې
دا منمه چې تۀ نخښه د ښکلا یې

ستا پۀ سر به چې شها راته خوړلو
درته یاد دي که نا هغه قسمونه
ستا پۀ نوم به یې چې خپلې شونډې ښکل کړې
تا ته یاد دي د شها هغه نازونه

خوله پهٔ جار لکه خوشحال به درکومه
غه لوظونه غه وعدې غه قسمونه
غه پهٔ لاره د گودر نرۍ مسکا یې
غه د بام پهٔ سر خواږهٔ شرارتونه

اے سپرلیه! هغه تول لیلا هیر کړي
نهٔ خلوص او محبت او نهٔ وفا شته
چې سراب وهٔ که یو ښکلے غوندې خوب وهٔ
نهٔ لوظونه نهٔ وعدې او نهٔ شها شته

ستا راتلهٔ دې گورې بیا بیا مبارک وي
گلدستې د سرو گلونو دې قبولې
رنگینۍ دې کړه خورې پهٔ هر یو لورې
دا ډالۍ دې د رنگونو دې قبولې

خو غنچې د سرو گلونو به زهٔ څهٔ کړم
زهٔ به چاته جوړوم ترې امیلونه
خوشبويۍ دې چې پهٔ پندو راله راوړې
زهٔ به چا ته دا لیږمه سلامونه

غه خو لاړه بې وفا شوله سپرلیه!
ورته ما به جوړول چې امیلونه
هغې هیر کړم لا تر اوسه چې مې یاده
زۀ به چاته ورلیږمه سلامونه

## دوه شعرونه

پۀ ګودر ترې جوړ همځولو منګے مات دے
سترګې دکې چې پریشانه تنها راغله

چې خوږه یې د ژوندون هره تلخي کړه
زړۀ ته داسې د چا ښکلې ادا راغله

# ژوند

ژوند پهٔ غېږه د جانان کښې
د يو ښکلي خوب ليدل دي
د پستو وربښمينو زلفو
پهٔ تالونو زنګېدل دي

ژوند پهٔ زنه و لېلا ته
د رانجو خالونه ږدل دي
ژوند خوارهٔ وارهٔ وربل کښې
رنګا رنګ ګلونه ږدل دي

ژوند پهٔ سرو نيازبينو شوندو
د نرۍ مسکا احساس دے
ژوند پهٔ سرو سرو اننګو کښې
د ښايسته ښکلا احساس دے

ژوند ورمو کښې د ګلونو
د لالي سره وتل دي
ژوند پهٔ لړه د ماښام کښې
د جانان سره خندل دي

ژوند پهٔ سترګو د جانان کښې
څو د راز پټې خبرې
ژوند لهٔ يار سره ماښام کښې
څو د نياز پټې خبرې

ژوند که ژوند وي نو بس دغه
د نيازبين جانان وصال دے
د يار شونډې ښکلول دي
ژوند ديدار د شينکي خال دے

څو زما دا ژوندون څهٔ دے
د اميد پهٔ سفر تلل دي
تشې اوښکې د حسرت دي
پهٔ بڼو کښې يې پېيل دي

# د غیب اواز

د خیلو مینځ وهٔ شپه وه یخه سمه نیمه شپه وه
بهر جړی هم وریدله ښه پهٔ مینه مینه
زما پهٔ مخ هم د چا یاد کښي اوښکي تلي ګریوان ته
شپه د سحر پهٔ لوري تلله ښه پهٔ مینه مینه

ما پهٔ ژړا ژړا کښي خپل نصیب ته بدرد ویئل
پهٔ مخ مي اوښکو قطارونه جوړول بهیدي
خو پهٔ بنو کښي به مي ځیني اوښکي تتي شولي
او ځیني نیغي به ګریوان ته پهٔ مزه څڅیدي

چي دي کښي ناساپه یو غږ مي تر غوږونو راغلو
"منم منم ژوندون دي اور واخستو وسوځیدو
لیلا خفه شوه هم غصه شوه مروره شوله
د ژوند دا یو ارمان دي زړهٔ کښي منم اورژیدو"
خو!

"د بیاترس میني د دانتے ژوند ایري ایري کړو
د پریشان نه پهٔ پښتو کښي لیلا دوبه شوله
(هغه خو ووس د نهٔ راتلو شوه تهٔ به کله راځي)
چي مي پهٔ خوا کښي قلندر مرګي ته چیغه کړله

لۀ منتظرؔ یې هم خندا پنده کښې تو له یوړه
او هم پۀ ویر یې پاپندي ده ګذاره به کوي
کله اسرارؔ ته پۀ دردونو کښې خوبونه ورځي
بس حال یې سم د لیونې دے ګذاره به کوي

تا د اعظمؔ غزلې ګوره جوړ لوستلې نۀ دي
چې لۀ هر تکي د غزل نه یې دردونه وري
تا د انجمؔ د زخمي زړۀ وینې لیدلې نۀ دي
چې لۀ سلګۍ سلګۍ ژوندون یې قیامتونه وري

تا د ساحرؔ د (تلخیاں) پانې که واړولې
د دردېدلي لوغوړن ژوندون تصویر ښکارېږي
درته قیصه که د جالبؔ د مینې ومې کړله
خدائیګو کټ مټ د هاغه قیس مجنون تصویر ښکارېږي

د ماؤزے تنګ د (ابدي ژوندون نغمه) خو واوره
د دار پۀ سر یې تنکۍ مینه قتلېده ما لیده
ژوندون یې اور واخستو اوسوځېدو لولپه شو
د دار پۀ سر چې د یانګ وینه تویېده ما لیده

تهٔ څهٔ خبر يې د سليمؔ د زړهٔ رازونو څخه
چې پهٔ سلګو سلګو اودهٔ شول پرهرو کښې د زړهٔ
چې د حسرتؔ لهٔ زړهٔ نه شنې ددوزې اوختلې
ارمان يې يو يو سوزېدلو پهٔ زخمو کښې د زړهٔ

زهٔ به د کوم يوهٔ قيصه درته راياده کړمه
ډېرو پهٔ زړهٔ باندې زخمونه ګوره ګور ته وړي
لکه دِ تا غوندې احسانؔ دردېدلي ډېر دي
ډېرو نيمګړي ارمانونه ګوره ګور ته وړي

## دوه شعرونه

ما يې پهٔ جار نوم دک محفل کښې چې بار بار اخستو
سترګو کښې قهر د نيازبينې شها څهٔ وې راته

ديو ښکلي د جانان پهٔ طمع طمع
هره ساه د زندګي مې انتظار شوه

# گوهــرتــه

(گران شاعرملگري پروفېسر ډاکټرګوهرزمان)

لاس رانــه واخستـل ژوندون ملـګريه!
مـرګ رانـه لـرې چرتـه وتښتېدو
تيارو مي ډوبه د امـېد رڼا کړه
ارمـان مـي زړهٔ کښې هسي وسوزېدو

د ويـنې هر څاڅـکي مي اور واخستـو
هره لمـحـه د ژوند سنګسار مي شولـه
د زړهٔ زخمونه مـي ګـزك غونډې شول
ملګريه! هره ساه پهٔ دار مي شولـه

ما وېل چې څهٔ چرتـه يو يار لرمـه
راسره نيم به کړي سپېرهٔ غمونـه
ما خو پهٔ تا باندې ډاډه وهٔ زړګے
چې ورتـه ښايم به د زړهٔ زخمونه

د پېښور د يونيورستۍ رنګينۍ
منم منم د پرېښودلو نهٔ دي
د (شوې) ښکلي نظارې ننداري
منم منم د هېرولو نهٔ دي

پهٔ دمره لوړے د خدائے پراخ جهان کښې
زهٔ چاته ورشم چاته اوژاړمه
نهٔ خو چا یار نهٔ خو دلبر کړمه چا
چا ته شم ور چا سره اوخاندمه

لکه د نورو پهٔ شان تا هم یاره
د یو بې وسه چیغې نهٔ اورېدې
چې سوزېدم لهٔ خپل ارمانه سره
زما پهٔ ژوند لمبې دې ونهٔ لیدې

ځان ته به اوژاړمه خیر دے یاره
لهٔ دې دنیا نه به ګیلې نهٔ کوم
اوښکې لمن کښې به راټولې کړمه
نورې د بل چا به اسرې نهٔ کوم

## یو شعر

د زړهٔ زخمونه د یار لار ته ګوري
خنګه ژوندي دي د درمان پهٔ ارمان

# خالقه!

چاته یار بې وفا ورکړې
چا نه ښکلې جانان واخلې
څوك په مینه باندې مور کړې
چا د مینې جهان واخلې

په چا سورې کړې د زلفو
څوك د هجر اور ته نیسې
څوك په سپینو لیچو خوب کړې
څوك د غم و زور ته نیسې

د چا هر ارمان پوره کړې
د چا یو ارمان کړې خاورې
چاته ورکړې جهانونه
د چا یو جهان کړې خاورې

څوك په زنه یار ته خال بړدې
چا ته وای ستغې سپورې
چا ېې نرمې شوندې ښکل کړې
څوك ولاړ دې شوندې سپورې

خوك د يار د سترگو تور كړے
هم مئين شي، هم جانان شي
خوك په يار پسي رانده كړي
مړ د ژوند په دي ارمان شي

د چا مله كړي تقديرونه
د چا هر تدبير ناكام كړے
د چا تور ماښام سحر كړے
د چا سپين سحر ماښام كړي

څه عجبه دے دنيا ده
څه عجب دے باچاهي ده
كه مي نه نيسي خالقه
څه عجبه دے خداي ده

## يو شعر

لكه د للمي گل وخپل شباب ته
داسي بي وخته رژېدم خو تلمه

# احساس

يو احساس زما په زړهٔ کښې
کله پټ کله ښکاره شي
کله وخاندي مسکے شي
کله وسوزي لمبه شي

کله خاورې شي ايرې شي
کله وخيژي اسمان ته
کله زړهٔ کښې اوسيلے شي
ګاه ګيلې وکړي جانان ته

کله يار ته واي "راشه"
کله شي غصه دلبر ته
کله زړهٔ کښې په ژړا شي
کله چيغې کړي بهر ته

کله شي روان ختيز ته
د صبا سره راخيژي
کله ستړے شي دنيا نه
په لويديز کښې بيا لويږي

شش و پنج کښي مبتلا دے
لېونے لېونے کېږي
زړهٔ کښي اوري په اړخونو
هم سوزېږي هم لوګېږي

غه دے غه دے لېونے شو
د صحرا پهٔ لور روان دے
د مجنون پهٔ نوم نعرې کړي
سر سرتوره سر ګردان دے

"اورېدل مې ابادي وه
خو غه داسې انسانان وو
چې پابدل د بل پهٔ غوښو
زهٔ خو وايم حېوانان وو

د ډارون وينا رښتيا ده؟
انسان ساز حېوانيت نه
که نا دا خنګه انسان دے
چې دے خلاص انسانيت نه

پهٔ جونګړو تېل کړي تويې
اُور ورپورې کړي سوزېږي
د محل پهٔ سر ولاړ وي
خوك خندا ښخه ماتېږي

اهرمن راپورته شوے
د يزدان ملګري وژني
د شيطان پلويان ګرزي
د رحمان ملګري وژني

هلته هر سړے خدا دے
زهٔ به کوم کوم ته سجده کړم
هلته هر سړے غاصب دے
زهٔ به کوم کوم نه ګيله کړم

هلته هر سړے حاکم دے
زهٔ د کوم يو تابعدار شم
هلته هر يو شهنشاه دے
زهٔ د کوم يو خدمتګار شم

بس هم د زما گناه ده
سر تیتي کولے نهٔ شم
زهٔ ژوندے ضمیر لرمه
چپه خوله کېدلے نهٔ شم

هلته گران دي وسېدل مې
هلته نهٔ شم وسېدے زهٔ
د بنده مخکښې مجنون
گوره نهٔ شم تیتېدلې زهٔ

ابادي مې نوره پرېښوه
دا دے راغلمه صحرا ته
اے مجنون زما یاره
لږ مې پرېږده خپلې خوا ته

## یو شعر

هر څوک که د زرهٔ ښار مې کندر کندر
غه ستا د یادونو محل ووس هم شته

# زړهٔ ته

کله د نشې او د خمار دنیا ته ننوځې
کله کړې شروع د ګناهونو د عذاب قیصې
کله رنګې شوې میخانې ابادول غواړې
کله کړې شروع د جنتونو او ثواب قیصې

کله سمندر شې لهٔ مستۍ ځپې ځپې درومې
کله بې بسې او مایوسې دې سره چیغنې کړې
کله دې پهٔ تل کښې طوفانونه سره وخوځې
کله بې وسې او مایوسې دې سره چیغنې کړې

کله د رومان یوه دنیا سره اباده کړې
ځنګ پهٔ ځنګ لېلا سره ځې لرې چرته غرونو کښې
کله مرور شې لهٔ هر چا یواځې ځان ته شې
سم دم لېونے وې هسې ډوب وې پهٔ سوچونو کښې

کله شې پهٔ خپله یو ښائسته ښکلے حسین دلبر
کله د بل حسن ولیدو وته محتاجه شې
کله پهٔ فراق کښې دیار اور واخلې ایرې شې تول
کله پهٔ وصال کښې یار ته نهٔ ګورې بې نیازه شې

کله وړې راتول لکه غوټۍ لمنې نغښتې وي
کله د ازغو مینځ کښې ګل ګل ښایسته رنګونه شي
کله لۀ نفرت نه ډرې ورې سره پرک چوي
کله د بل غم کښې زخم زخم پرهرونه شي

کله د دُنیا د خلاصې پانې راواړوي
کله د لیلا د پستو شوندو غه پستې قیصې
کله د ملا د تقریرونو قیصې اوچېړي
کله د لیلا د خوږې ژبې غه خوږې قیصې

کله د صوفي غوندې څنګل کښې پۀ جونګړه کښې
څان ته دې دنیا د الاهو اباده کړې وي
کله دې ساقي سره یاري کلکه نیولې وي
څنګه یوه بې غمه دنیاګۍ دې سازه کړې وي

زۀ خو دې زړګیه د ژوندون له برمه پرې ایستم
خدا ے ته ګوره سم شه پۀ قرار شه پۀ قرار شه بس
ستا د لاسه غرق شوم د ځوانۍ پۀ خوږو پوي نۀ شوم
بس دے راتر غاړه ووزه زړګیه زما یار شه بس

# لټون

ستا په لټون کښې خدایه
چې زهٔ کعبې ته لاړم
هلته کعبې کښې تهٔ وې
هم میخانې کښې تهٔ وې

د کائینات ذرو کښې
زما وجدان کښې تهٔ وې
د تولې زمکې په مخ
بره اسمان کښې تهٔ وې

تهٔ وې د ګل پانه کښې
د یار خندا کښې تهٔ وې
تهٔ د غوټۍ په زړهٔ کښې
د زړهٔ درزا کښې تهٔ وې

د سیند خپو کښې ربه!
تهٔ وې د نمر رڼا کښې
د هلال خوا کښې تهٔ وې
تهٔ د سپوږمۍ څلا کښې

د ساقي جام کښې تهٔ وې
تهٔ وې د شېخ تسبو کښې
د رند مېنا کښې تهٔ وې
تهٔ د ملا فتوو کښې

د خان محل کښې تهٔ وې
تهٔ د مزدور خولو کښې
تهٔ د ظالم خندا کښې
تهٔ د يتيم سلګو کښې

د خوار کېږدۍ کښې خدايه
د خان محل کښې تهٔ وې
د خوار خلوص کښې خدايه
د خان پهٔ چل کښې تهٔ وې

د غلهٔ پهٔ لوړه کښې تهٔ
تهٔ د قاضي نظر کښې
تهٔ د باچا انصاف کښې
تهٔ د جلاد خنجر کښې

د انتظار پهٔ خوند کښې
د يار وعدو کښې تهٔ وې
تهٔ د مئين اوښکو کښې
پهٔ شنو خالو کښې تهٔ وې

زما تقدیر کښې تهٔ وې
پهٔ تدبیرونو کښې وې
تهٔ مایوسیو کښې مې
پهٔ امېدونو کښې وې

منم منم خاونده!
چې تهٔ پهٔ هر څهٔ کښې یې
د کائنات ذرو کښې
تهٔ دا زما زړهٔ کښې یې

تا پهٔ هر څهٔ کښې وینم
چې ستا جهان ته ګورم
ړوند شمه ړوند شم خدایه!
چې زهٔ خپل ځان ته ګورم

خنکه به تاته رسم
زهٔ یم لهٔ ځان ناخبر
ودهٔ پهٔ وینه یم
زهٔ لهٔ جهان ناخبر

# د امان الله ساهو په مرګ

رفیعؔ سر په زنګون ناست وه
د صمیمؔ هم سترګې سرې وې
د نثارؔ نرې خوږک وه
د کاروانؔ سترګې لوندې وې

د سالکؔ له سترګو اوښکې
څاڅکې څاڅکې څڅېدلې
د صمدمؤمندؔ ګرېوان ته
ترمې اوښکې وې راتللې

عابدؔ ګم سم غوندې شوی
نه روداد نه یې قیصې وې
د هاديؔ ژبه ګونګې وه
نه خندا نه یې قطعې وې

د سپرليؔ له پستې غېږې
د خزان نعرې ختلې
بس هر خوا چپه چپیا وه
هر یو کس سترګې مښلې

ما ویل "ما" خو هم څۀ پوه کړی
د افغان بهیر ملګرو
چې دا ولې؟ دا څۀ چل دے؟
یه زما دلګیر ملګرو

عامر غوږ کښې راته ووېل
عجیبه کار دے سوات کړے
د سپرلي لۀ پستي غېږ یې
د رنګونو جهان وړے

ساهو روح چې د بهیر وۀ
درزېدل مو چې پرې زړونه
چې هی هی د ساهو نۀ وي
وي خاموش به بهیرونه

ملګرے امان الله ساهو د پسرلي
صبب زړے وو چې پۀ سوات کښې د
زړۀ د بندېدو لۀ امله پۀ حق رسېدلے
وۀ. دغه وخت ساهو د "افغان بهیر"
مشر سېکتر وو.

# دِ تا تصویر رانه غزلي غواړي

دِ تا تصویر رانه پهٔ ګونګه ژبه
جانه ګیلي کوي غزلي غواړي
زهٔ د ژوندون پهٔ لاره ستړے ستومان
داي رانه مینه او سندرې غواړي

ما اوروول به درته خپل شعرونه
دِ تا پهٔ شوندو به مسکا خورېده
ما به د خپل ارمان چې ذکر کاوهٔ
ستا اننګو کښې به حیا خورېده

بیا د سبا د لوظ د پاره به ما
راغوندول به مې رنګین خیالونه
توله شپه ناست به وم د شمعې خوا کښې
ما به لیکل درته ښائسته شعرونه

تهٔ چرته لاړې د زړهٔ سره زما
وس نو و چا ته به شعرونه لیکم
تهٔ مې د ستړي ژوند منزل ګلالے
د چا پهٔ نوم به اوس نظمونه لیکم

دِ تا تصویر رانه پهٔ گونګه ژبه
جانه ګیلي کوي غزلي غواړي
زهٔ د ژوندون پهٔ لاره ستړے ستومان
داي رانه مینه او سندرې غواړي

پهٔ سترګو سترګو کښې هم واي راته
ماته قیصې به د سپرلي څوک کوي
د سیند پهٔ غاړه د سپوږمۍ رنا کښې
وس به قیصې د ماښامي څوک کوي

زما زړګے خو د قدیمي کندرات
خو داي ترې ګوره اور د میني غواړي
ما د بنګړو شنار پهٔ خوا هیر کړاي
خو داي مې زړهٔ کښې شور د میني غواړي

زما هم زړهٔ غواړي چې وموسیږم
هم خندیدو ته مې بلا زړهٔ کیږي
د دې فطرت پهٔ ښایئسته نظارو
کښې ورکیدو ته مې بلا زړهٔ کیږي

خدای خبر څهٔ شوې د زړهٔ سره زما
تهٔ وې محور زما د شعر د دنیا
تهٔ مې د ژوند د لارې ښکلې منزل
تهٔ مې د ژوند د تورو شپو وې سبا

ډېر مې زړهٔ غوارې د سپوږمۍ رڼا کښې
جانه یو څو د نیاز خبرې وکړو
بیا د نیم رنګ ډېوال و سیورې ته مونږ
جانه یو څو د راز خبرې وکړو

د خدای پهٔ دمره لوی جهان کښې جانه!
ځان راته ولې چې تنها ښکارېږي
پهٔ تنهایي کښې دې هم نوم چې اخلم
خدای خبر ولې مې چې زړهٔ درزېږي

د تا د لندې زنې شنهٔ خالونه
ستا پهٔ تصویر کښې رانه ځان پټوي
د تا د شوندو ګلالې تبسم
ما پهٔ ماضي کښې خندګه بیا ګرزوي

زما سره زړهٔ د لاړې چرته ؟
چاته به ګل چاته سپرلے به وایم
تهٔ مې د سترې ژوندون اِك یو ارمان
چاته به ځان چاته زړګے به وایم

دِ تا تصویر رانه پهٔ ګونګه ژبه
جانه ګیلې کوي غزلې غواړي
زهٔ د ژوندون پهٔ لاره ستړے ستومان
داي رانه مینه او سندرې غواړي

دوه شعرونه

بیا ناسته پهٔ ګودر د دك منګي پهٔ ادانه ده
پهٔ زړهٔ مازیګرې د نمر شغلو کښې د کتو ده

تورې سترګې، سرهٔ اننګې، سرې شوندې
اخلې مې وهٔ مرك ته صلا یو بل نه

# حادثه

د خپلې لور "انیله" په مرګ چې د تېلیسیمیا په مرض مړه شوه.

بیا مې په رګ رګ کښې وینه وچه شوه
بیا مې د ژوند ورځې بې مقصده شوې
بیا مې د سحر رڼا بې نوره شوه
بیا مې د ماښام نشې بې خونده شوې

بیا مې شو تقدیر راته رقیب رقیب
بیا مې د ارمان لمنې اور واخست
بیا مې د زخمونو خولګۍ وینې شوې
بیا مې د بدن دردونو زور واخست

بیا مې د خوبونو ښائیسته تعبیر
ونیوو خپسې په لېمو کښې مې
بیا مې په زړګي کښې د کیلو بهیر
دوب شو وارخطا شو په سلګو کښې مې

بیا مې د سپرلو نه رنګینۍ لاړې
بیا مې د ژوندون خندا خاموشه شوه
بیا مې امېدونه ساه نیولي شول
بیا مې د زړګي درزا خاموشه شوه

بیا مې نن په شونډو د خوښۍ خندا
اوړژېده اوبرچېده غلې شوه
بیا مې په زړګي کښې د ټول ژوند ارزو
اودړدېده اوړژېده غلې شوه

# دعـا

خدایه راکړه خدایه راکړه
محبوبا حسینه راکړه
دغه یو سوال مې قبول کړه
دلربا نیازبینه راکړه

د سپوږمۍ هسې مهینه
د ګلاب هسې نیازبینه
د ږمو هسې روانه
دسپرلي هسې رنګینه

چې په ناز او نیاز کاته کړي
خوله یې دکه له خندا نه
سترګې دکې له خماره
د شغلو هسې روښانه

د شفق په سرې رنا کښې
چې راځي راځي مې خوا ته
چې د ژمي ماښامي کښې
په ورو ورو راځي مې خوا ته

د دردمن زړۀ مي تکور وي
چي د هر رنځ مي دوا وي
چي د نور يوه شغله وي
د امېد يوه رڼا وي

سپين نازک يې مروندونه
شوندې سرې لکه ګلاب
تورې وروځې يې هلال
سپين يې مخ لکه افتاب

تورې زلفې عبنرينې
بنګالۍ ورته پسخېږي
تورې ښکلې سترګې
چي هوسۍ ورته پسخېږي

چي راواړوي سرې سترګې
يو او دوه رانه خطا کړي
چي د سترګو پۀ ځنبل کښي
ګاه مي يار ګاه مي اشنا کړي

د خوبونو د شباب مې
یو حسین شاني تعبیر وي
د ځوانۍ د لېونتوب مې
د وصال ښکلې تدبیر وي

د مستۍ دریاب ښکې ډوبه
د خمار په سمندر ښکې
راته ګوري غلې غلې
قیامتونه یې نظر ښکې

چې احساس د مینې ورو ورو
تخنوي مې تخنوي مې
د بنګړو په شنېدو مې
فکر ورو ورو پاروي مې

غلې غلې راته خاندي
د سپوږمۍ سره په خوا ښکې
د ګلونو هار په غاړه
د سپرلي مسته فضا ښکې

چي خيالونه مي لاهو شي
د ليلا د زني خال کښي
ورك شم ورك شم هسي ورك شم
د نيازبينکي پهٔ جمال کښي

نا اميده انتظار کښي
د وصال حسينه هيله
د ماښام تورو تيارو کښي
د سحار رنگينه هيله

مينه ناکه وفاداره
حياناکه پښتنه وي
پهٔ رموز د ميني پوهه
شرمناکه پښتنه وي

خدايه راکره خدايه راکره
محبوبا حسينه راکره
دغه يو سوال مي قبول کره
دلربا نيازبينه راکره



د کتاب د سرپاڼي په مخ پیش منظر او پس منظر او خوا کښې یې صفه انساني وجود که څوک په نظر کښې وساتي او بیا لږ فکر پرې وکړي نو کتاب کښې د غزل او نظم په رنګ کښې شاعر چې کوم لیک کړے دے څه نا څه اندازه لګولو کښې به څه حده پورې غلطي نه کوي چې "دا د حیا شکلے تصویر دے"۔

احسان بیټني د بیټ نیکه د ذریت په حواله د شعر لیوه لویه برخه په وراثت کښې لري۔ د ده لطیف احساسات، دلهډیدلي تربت جذبات، فکرانګیز خیالات او پاسته شیرین الفاظ چې شعر کښې پیرلي کوم نو وایم اے کاش! زما هم داسې لیک وے!

د خوند خبره دا ده چې احسان بیټني زمونږ د بیټنو د علاقې یو تعلیمیافته زلمے شاعر دے خو د مونږ غونډې بېر او د رژه الفاظ او تراکیب څخه ترخیله وسه ډډه (پرهیز) کوي بلکه د مرداڼ د غاړې غزل ربړه، رنګینه زمه اکثر پکار وي او پوره ته د افغانستان مترقي پښتو ادب پله هم کله ناکله سرغړنې ورکوي۔ زما په خیال دغه وصف ئې روښانه مستقبل ته جوته اشاره ده انشاءالله۔

منتظر بیټني

۳۱ مئي ۰۶ء